# دافغانستان اسلامي جمهوریت
# دعدلیې وزارت

# رسمي جريده

## فوق‌العاده گڼه

# دکانونو قانون    قانون معادن

دخپرېدونېټه: د ۱۳۹۷هـ.ش کال دتلې دمیاشتې (۲۱)
پرله پسې نمبر: (۱۳۱۵)

تاریخ نشر: (۲۱) میزان سال ۱۳۹۷ هـ.ش
نمبر مسلسل: (۱۳۱۵)

| | |
|---|---|
| د امتیــاز خاوند: | د عدلیــې وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸ |
| مرستیــال: نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمـــم: محمد جان | ۰۷۴۷٦۲۷۹۳۰ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت این شماره (به اساس قرارداد): (٥٦) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۲۰۰ ) صفحه

مطبعه: بهیــر

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان(شیرپور)،کابل

## د کانونو د قانون د توشیح په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه: (۳۲۰)
نېټه: ۱۴ /٦/ ۱۳۹۷

لومړۍ ماده:

دافغانستان داساسي قانون دڅلورشپېتمې مادې د ۱٦ جزء او د نهه اویایمې مادې د حکم په رعایتولو سره، دکانونو قانون چې د افغانستان اسلامي جمهوریت دکابینې د ۱۴/ ٦ / ۱۳۹۷ نېټې (۱۰) ګڼې مصوبې پر بنسټ د (۱۵) فصلونو او (۷۷) مادو په دننه کې تصویب شوی دی، توشیح کوم.

دوه یمه ماده:

د عدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي، دغه فرمان او د کانونو قانون د ملي شورې د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې، هغې شورې ته وړاندې کړي.

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد توشیح قانون معادن

شماره: (۳۲۰)
تاریخ: ۱۳۹۷/٦/۱۴

مادهٔ اول:

به تأسی از حکم جزء ۱٦ مادهٔ شصت و چهارم و با رعایت مادهٔ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، قانون معادن را که به اساس مصوبهٔ شماره (۱۰) مؤرخ ۱۳۹۷/٦/۱۴ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۱۵) فصل و(۷۷) ماده تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

مادهٔ دوم:

وزیر عدلیه و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، این فرمان و قانون معادن را در خلال مدت (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسهٔ شورای ملی به آن شوری تقدیم نمایند.

**درېیمه ماده:**

**دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې له مصوبې او د نوموړي قانون له متن سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.**

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

**مادهٔ سوم:**

**این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و متن قانون مذکور در جریدهٔ رسمی نشر گردد.**

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د کانونو د قانون د طرحې
## په هکله د افغانستان اسلامي
## جمهوریت د کابینې
## مصوبه

**ګڼه: (۱۰)**

**نېټه: ۱۳۹۷/٦/۱۴**

د افغانستان د اساسي قانون د نهه او یایمې مادې د حکم له مخې، د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې د ۱۳۹۷/٦/۱۴ نېټې په خپله غونډه کې د کانونو د قانون طرحه، د (۱۵) فصلونو او (۷۷) مادو په دننه کې د تقنیني فرمان په ډول تصویب کړه.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

## مصوبهٔ
## کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان
## در مورد طرح قانون
## معادن

**شماره: (۱۰)**

**تاریخ: ۱۳۹۷/٦/۱۴**

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به تأسی از حکم مادهٔ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۷/٦/۱۴ خویش طرح قانون معادن را بداخل (۱۵) فصل و (۷۷) ماده به حیث فرمان تقنینی تصویب نمود.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## فهرست مندرجات

## قانون معادن

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۱۰ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۱۰ |
| مادۀ سوم: | نام اختصاری | ۱۱ |
| مادۀ چهارم: | اصطلاحات | ۱۱ |


### فصل دوم

### وظایف و صلاحیت ها


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ پنجم: | وظایف و صلاحیت های وزارت | ۳۸ |
| مادۀ ششم: | سروی جیولوجی | ۴۳ |
| مادۀ هفتم: | کمیته تخنیکی معادن | ۴۴ |
| مادۀ هشتم: | وظایف کمیتۀ تخنیکی معادن | ۴۹ |
| مادۀ نهم: | صلاحیت های شورای عالی اقتصادی | ۵۲ |
| مادۀ دهم: | وظایف و صلاحیت های اداره تدارکات ملی | ۵۵ |
| مادۀ یازدهم: | صلاحیت های کمیسیون تدارکات ملی | ۵۶ |
| مادۀ دوازدهم: | صلاحیت های کابینه | ۵۷ |
| مادۀ سیزدهم: | تضاد منافع و اجراآت فاسد | ۵۸ |
| مادۀ چهاردهم: | اشتراک در صنعت معدنکاری | ۵۹ |

## فصل سوم
## چارچوب تخصیص حقوق منرالی

مادهٔ پانزدهم: مالکیت منرال ها........................................۶۱
مادهٔ شانزدهم: ممنوعیت معدنکاری غیرقانونی..........................۶۲
مادهٔ هفدهم: واجد شرایط بودن........................................۶۳
مادهٔ هجدهم: منرالهای مقیده........................................ ۶۸
مادهٔ نزدهم: تخصیص ساحات........................................۶۹
مادهٔ بیستم: تخصیص حقوق منرالی....................................۷۱

## فصل چهارم
## ثبت و شفافیت

مادهٔ بیست و یکم: ثبت................................................ ۷۳
مادهٔ بیست و دوم: نقشه سروی کادستری...................................۷۶
مادهٔ بیست و سوم: اطلاعیه ها و ارتباطات...................................۷۶
مادهٔ بیست و چهارم: نگهداری سوابق، معلومات اکتشافی ونمونه ها............۷۷
مادهٔ بیست و پنجم: شفافیت عامه.........................................۷۸

## فصل پنجم
## جوازها

مادهٔ بیست و ششم: انواع جوازها.........................................۸۲
مادهٔ بیست وهفتم: ماهیت و مشخصات جواز...................................۸۵
مادهٔ بیست و هشتم: اعطای جوازهای اکتشافی و بهره برداری ................۸۶
مادهٔ بیست و نهم: درخواست برای جواز معدنکاری به مقیاس کوچک.......۹۲
مادهٔ سی ام: حد اکثر ساحه، عمق و تعداد جواز ......................۹۵

مادهٔ سی و یکم: میعاد جواز..................................................۹۹
مادهٔ سی و دوم: انصراف از جواز..................................................۱۰۱
مادهٔ سی و سوم: تغییر برنامه اکتشافی، پیشنهاد معدنکاری و برنـــامه کاری به مقیاس کوچک..................................................۱۰۱

## فصل ششم
## حقوق و شرایط جوازها

مادهٔ سی و چهارم: حقوق تفویض شده توسط جوازها........................۱۰۲
مادهٔ سی و پنجم: شرایط جواز..................................................۱۰۷
مادهٔ سی و ششم: صادرات و استفاده از تولیدات........................۱۱۸
مادهٔ سی و هفتم: زیربناها..................................................۱۱۹

## فصل هفتم
## معاملات

مادهٔ سی و هشتم: تغییر در کنترول دارندهٔ جواز........................۱۲۱
مادهٔ سی ونهم: انتقال جواز یا منفعت جواز..............................۱۲۳

## فصل هشتم
## قرارداد معدنکاری و طی مراحل داوطلبی

مادهٔ چهلم: قرارداد معدنکاری..................................................۱۲۴
مادهٔ چهل و یکم: برگزاری پروسهٔ داوطلبی..............................۱۳۱
مادهٔ چهل و دوم: اشتراک در پروسهٔ داوطلبی............................۱۳۲
مادهٔ چهل و سوم: پیشنهاد داوطلبی..................................................۱۳۴
مادهٔ چهل و چهارم: پروسهٔ ارزیابی داوطلبی..............................۱۳۷
مادهٔ چهل و پنجم: مراحل اعطای قرارداد معدنکاری........................۱۳۹

مادۀ چهل و ششم: اجرای قرارداد معدنکاری............................۱۴۴
مادۀ چهل و هفتم: نقش ادارۀ تدارکات ملی..............................۱۴۶

## فصل نهم

## عواید معدنکاری

مادۀ چهل و هشتم: مالیات........................................ ۱۴۸
مادۀ چهل و نهم: محاسبۀ عواید معدنکاری............................۱۴۹
مادۀ پنجاهم: صندوق انکشاف ولایتی...............................۱۵۰
مادۀ پنجاه و یکم: رویالتی..............................................۱۵۱
مادۀ پنجاه و دوم: بررسی (تفتیش) رویالتی ...........................۱۵۴

## فصل دهم

## تضمین مالی، رعایت قانون و اجراآت

مادۀ پنجاه و سوم: ضمانت اجرای تعهدات..............................۱۵۷
مادۀ پنجاه و چهارم: ضمانت محیط زیستی..............................۱۵۷
مادۀ پنجاه و پنجم: پیامدهای عدم رعایت احکام این قانون.................۱۵۸
مادۀ پنجاه و ششم: نظارت اداری.........................................۱۶۰
مادۀ پنجاه و هفتم: اقدامات اجرایی.......................................۱۶۱
مادۀ پنجاه و هشتم: وضع جریمه.........................................۱۶۲
مادۀ پنجاه و نهم: تعلیق جواز............................................۱۶۳
مادۀ شصتم: لغو جواز..................................................۱۶۴
مادۀ شصت و یکم: تعقیب عدلی.........................................۱۶۶
مادۀ شصت و دوم: نظارت اجتماعی وگزارش رعایت احکام این قانون......۱۶۶

## فصل یازدهم

## مدیریت محیط زیستی

مادۀ شصت و سوم: رعایت قانون محیط زیست.............................۱۶۸
مادۀ شصت وچهارم: پلان مدیریت محیط زیستی .............................۱۶۸

## فصل دوازدهم

## مفاد محلی و توسعه اجتماعی

مادۀ شصت وپنجم: مفاد محلی.........................................۱۷۰
مادۀ شصت وششم: پلان توسعه اجتماعی.................................۱۷۱

## فصل سیزدهم

## صحت و ایمنی

مادۀ شصت وهفتم: وظایف خاص ..........................................۱۷۳
مادۀ شصت وهشتم: گزارش حادثات .......................................۱۷۴
مادۀ شصت ونهم: صحت وایمنی.........................................۱۷۴
مادۀ هفتادم: پلان صحی وایمنی........................................۱۷۵

## فصل چهاردهم

## دسترسی به زمین وجبران خساره

مادۀ هفتاد ویکم: استفاده همزمان از زمین........................... ۱۷۶
مادۀ هفتاد ودوم: فعالیت های فرعی (تبعی) وپروسس..................۱۷۹
مادۀ هفتاد وسوم: آثار باستانی و فرهنگی..............................۱۷۹

## فصل پانزدهم
## احکام نهایی

مادهٔ هفتاد وچهارم: جواز انتقالی........................................۱۸۰
مادهٔ هفتاد وپنجم: معدنکاری حرفه ای و غیر قانونی......................۱۸۶
مادهٔ هفتاد وششم: وضع مقرره ها و طرزالعمل ها.........................۱۸۹
مادهٔ هفتاد وهفتم: تاریخ انفاذ..............................................۱۹۶

## دکانونو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون دنهمې مادې د حکم له مخې، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- دکان کېندنې صنعت د پراختیا له لارې د هېواد د اقتصادي ځان پاینبت وده.

۲- د دولت لپاره د کانونو له ګټې اخیستنې څخه د اکثرحد عوایدو تأمین.

۳- له منل شوو نړیوالو تګلارو سره سم، په هېواد کې د منرالي فعالیتونو له اجراء کولو څخه د ډاډ تر لاسه کول.

۴- د کان کېندنې په صنعت کې د کورنیو او بهرنیو پانګونو لپاره د مناسبې

## قانون معادن

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون به تأسی از حکم مادۀ نهم قانون اساسی افغانستان، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- رشد خود پایداری اقتصادی کشور از طریق توسعه صنعت معدنکاری.

۲- تأمین حداکثر عواید از بهره برداری معادن برای دولت.

۳- حصول اطمینان از اجرای فعالیت‌های منرالی در کشور مطابق روش‌های قبول شده جهانی.

۴- رشد زمینه مناسب برای سرمایه‌گذاری داخلی و خارجی در

زمينې وده.

۵- د منرالي فعاليتونو مديريت په داسې ډول چې د ژوند چاپېريال او د ټولنيزو ناوړو اغېزو د کمښت لامل شي.

۶- د کان کېندنې په صنعت کې د سيمه ييزو ټولنو د مشارکت آسانتيا او له ملي او سيمه ييزو مالونو او خدمتونو څخه ګټه اخيستل.

۷- د کانونو په ساحه کې د اقتصادي او ټولنيزو فعاليتونو د پراختيا له لارې د سولې او امنيت له تأمين سره مرسته.

اختصاري نوم

درېيمه ماده:

(۱) د کانونو او پټروليم وزارت له دې وروسته په دې قانون کې د وزارت په نامه يادېږي.

(۲) د افغانستان اسلامي جمهوريت کابينه له دې وروسته په دې قانون کې د کابينې په نامه يادېږي.

اصطلاحګانې

څلورمه ماده:

په دې قانون کې راتلونکې

صنعت معدنکاری.

۵- مدیریت فعالیت‌های منرالی به نحوی که منجر به کاهش اثرات سوء محیط زیستی و اجتماعی گردد.

۶- تسهیل مشارکت جوامع محلی در صنعت معدنکاری و استفاده از کالاها و خدمات ملی و محلی.

۷- کمک به تأمین صلح و امنیت از طریق توسعه فعالیت‌های اقتصادی و اجتماعی در ساحه معادن.

نام اختصاری

مادۀ سوم:

(۱) وزارت معادن و پترولیم منبعد در این قانون به نام وزارت یاد می‌گردد.

(۲) کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان منبعد در این قانون به نام کابینه یاد می‌گردد.

اصطلاحات

مادۀ چهارم:

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم

اصطلاحگانې لاندې مفاهیم افاده کوي:
۱- منرال (معدني توکي): هغه طبیعي مرکبات دي چې له ځمکې یا اوبو څخه تر لاسه کېږي. په دې تعریف کې خاوره، اوبه یا اوبلن هایدروکاربونونه یا طبیعي ګاز نه شاملېږي.
۲- منرالي فعالیتونه: تفحص، اکتشاف، ګټه اخیستنه یا فرعي (تبعي) فعالیتونه دي.
۳- تفحص: هوایي، ځمکې پېژندنې، جیوفیزیکي، جیوکیمیاوي، زلزلې پېژندنې او د ځمکې- اوبو پېژندنې، د ځمکې پېژندنې د نقشې اخیستنې او د خاورې او ډبرې د نمونې اخیستنې سروې ګانې دي.
۴- اکتشاف: هغه فعالیتونه دي چې د ځمکې یا اوبو دمنرالي ترکیب د کشف یا د کان کېندنې د امکان سنجۍ د ارزونې او د منرالونو د پروسس په منظور تر سره کېږي. دغه فعالیتونوکې لاندې موارد رانغاړي:
- هوایي، ځمکې پېژندنې، جیوفزیکي، جیوکیمیاوي، د زلزلې پېژندنې او د

ذیل را افاده می‌نماید:
۱- منرال (مواد معدنی): مرکبات طبیعی است که از زمین یا آب بدست می‌آید. این تعریف شامل خاک، آب یا هایدروکاربن‌های مایع یا گاز طبیعی نمی‌شود.
۲- فعالیت های منرالی: تفحص، اکتشاف، بهره برداری یا فعالیت های فرعی (تبعی) است.
۳- تفحص: سروی‌های هوایی، زمین‌شناسی، جیوفیزیکی، جیوکیمیاوی، زلزله شناسی، زمین-آب شناسی، نقشه برداری زمین شناختی و نمونه‌گیری خاک و سنگ می‌باشد.
۴- اکتشاف: فعالیت‌های است که به منظور کشف ترکیب منرالی زمین یا آب یا ارزیابی امکان سنجی معدنکاری و پروسس منرال‌ها انجام می‌گردد. این فعالیت‌ها شامل موارد ذیل می‌شود:
- سروی‌های هوایی، زمین شناسی، جیوفیزیک، جیوکیمیاوی، زلزله

ځمکـــــې– اوبـــــو پېژنـــــدنې (hydro-geological) سروې ګانې.

– د ځمکې پېژندنې نقشې اخيستل.

– د خاورې او ډبرې نمونې اخيستل.

– کېندنه او عيار سنجي.

– کېندنه او د حفـــره يـــي خـــوړنې ازمايښت.

۵– ګټه اخيستنه: کـــان کېندنـــه او پروسس رانغاړي.

٦– فرعي (تبعي) فعاليتونـــه: هغـــه فعاليتونه چې د جواز له ساحې څخه بهر دي خو د جواز په ساحه کې په ګټې اخيستنې يا کان کېندنې پورې د اړوندو فعاليتونو لپاره اړين يا مناسب دي او اکتشافي او کان کېندنې فعاليتونه په کې نه شاملېږي.

۷– کان کېندنه: د لاندې مواردو په ګډون له ځمکې يا اوبو څخه د منرالونو د را ايستلو په منظور اړين فعاليتونه دي:

– کېندل او د باران د اوبو استحصال يا راټولول.

– دکانونو پراختيا، تـــړل او احيـــا کول.

شناســـی و زمـــين – آب شناســـی (hydro-geological).

– نقشه برداری زمين شناسی.

– نمونه‌گيری خاک و سنگ.

– حفر و عيارسنجی.

– کندن کاری و آزمايش خـــوردگی حفره‌ای.

۵– بهره برداری: شامل معدنکاری و پروسس می‌شود.

٦– فعاليت هـــای فرعـــی (تبعـــی): فعاليت های که خارج از ساحه جواز بوده ولی برای فعاليت‌های مرتبط به بهره‌برداری يا معدنکاری در ســـاحه جواز ضروری يا مناســـب اســـت و فعاليت‌های اکتشافی و معدنکاری را شامل نمی‌شود.

۷– معدنکاری: فعاليت های ضروری به‌منظور استخراج منرال‌ها از زمين يا آب به شمول موارد ذيل است:

– حفر کـــردن و استحصـــال يـــا جمع‌آوری آب باران.

– توسعه، بستن (بسته کردن) و احيای معادن.

۸- په کوچني مقياس منرالونه: د لاندې مواردو په استثناء ټول منرالونه رانغاړي:
- مقيده منرالونه.
- د اوسپنې ډبره،سکاره، منگنيز اومس.
- هر هغه بل منرال چې په مقررو کې مشخص شوی وي.

۹- پروسس: هغه فعاليتونه دي چې د يو ډول توليداتو د توليد لپاره له منرالونو څخه د گټې اخيستنې په منظور تر سره شي. دغه فعاليت د ډبرې ماتول، تصفيه، مينځل، د ډبرې مينځل، الکتريکي را ايستل (electro-winning)، تغليظ، ويلې کول او ځلبنت رانغاړي.

۱۰- د کان کېندنې قرارداد (Mining Concession): د منرالي فعاليتونو د تر سره کولو په هکله د حکومت او د قرارداد لرونکي تر منځ ليکلی موافقه ليک دی چې له هغه سره سم لاندې موارد تر سره کېږي:
- د گټې اخيستنې د جواز ورکړه.

۸- منرال های به مقياس کوچک: شامل تمام منرال‌ها می‌گردد به استثنای موارد ذيل:
- منرال‌های مقيده.
- سنگ آهن، ذغال، منگنيز و مس.
- هر منرال ديگری که در مقرره‌ها مشخص شده باشد.

۹- پروسس: فعاليت‌های است که به منظور بهره برداری از منرال‌ها برای توليد يک نوع توليدات انجام شود. اين فعاليت شامل سنگ شکنی، تصفيه، شست‌وشو، سنگ شويی، استخراج الکتريکی (electro-winning)، تغليظ، ذوب و پالايش می‌گردد.

۱۰- قرارداد معدنکاری (Mining Concession): موافقت‌نامه کتبی ميان حکومت و دارندهٔ قرارداد در مورد انجام فعاليت‌های منرالی است که مطابق آن موارد ذيل انجام می‌شود:
- اعطای جواز بهره‌برداری.

- د اکتشافي جواز ورکړه او د ګټې اخیستنې د جواز د ورکړې لپاره د تقدم حق.

۱۱- د کان کېندنې د قرارداد لرونکی (Concession Holder): هغه شخص دی چې د کان کېندنې قرارداد یې تر لاسه کړی وي.

۱۲- جواز: اکتشافي جواز، یا په کوچني مقیاس د کان کېندنې جواز دی چې ددې قانون له حکمونو سره سم صادرېږي.

۱۳- جواز لرونکی: هغه شخص دی چې ددې قانون له حکمونو سره سم، جواز د هغه په نامه ثبت شوی دی.

۱۴- د جواز ګټه: په مالکیت، ګروۍ یا د وثیقې په حق کې د ونډې او د فرعي جواز په ګډون په جواز کې اختصاصي انتفاعي حق دی.

۱۵- د پانګونې (تشبث) جواز: هغه سند دی چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت د مرکزي ثبت او د فکري مالکیت د ادارې په واسطه صادر او په هغه کې مشخص شوي وي چې شخص

- اعطای جواز اکتشافی و حق تقدم برای اعطای جواز بهره‌برداری.

۱۱- دارنده قرارداد معدنکاری (Concession Holder): شخصی است که قرارداد معدنکاری را کسب نموده باشد.

۱۲- جواز: جواز اکتشافی، جواز بهره برداری یا جواز معدنکاری به مقیاس کوچک است که مطابق احکام این قانون صادر می‌گردد.

۱۳- دارنده جواز: شخصی است که به نام او جواز مطابق احکام این قانون ثبت گردیده است.

۱۴- منفعت جواز: حق انتفاعی اختصاصی در جواز است به شمول، سهم در مالکیت، گروی یا حق وثیقه و جواز فرعی.

۱۵- جواز سرمایه گذاری (تشبث): سندی است که توسط ادارهٔ ثبت مرکزی و مالکیت فکری وزارت صنعت و تجارت صادر شده و در آن مشخص شده باشد که شخص

د کانونو په صنعت پورې اړوند فعالیتونه تر سره کولی شي.

۱٦- اکتشافي جواز: هغه جواز دی چې د دې قانون د اته ویشتمې مادې له (۱ او ۲) فقرو سره سم ورکول کېږي او د هغه پربنسټ د دې قانون له حکمونو سره سم په ستر مقیاس د کان کېندنې په پروژو کې اکتشاف تر سره کېږي.

۱۷- د ګټې اخیستنې جواز: هغه جواز دی چې د دې قانون د اته ویشتمې مادې له (۳ او ۴) فقرو یا له (۹) فقرې سره سم، ورکول کېږي او د هغه پربنسټ ددې قانون له حکمونو سره سم په ستر مقیاس د کان کېندنې په پروژو کې ګټه اخیستنه تر سره کېږي.

۱۸- د کوچنې مقیاس د کان کېندنې جواز: هغه جواز دی چې ددې قانون د نهه ویشتمې مادې له حکم سره سم ورکول کېږي او د هغه پربنسټ ددې قانون له حکمونو سره سم د مسلکي کان کېندنې د فعالیتونو په ګډون په کوچنې مقیاس د کان کېندنې په پروژو

فعالیت‌های مرتبط با صنعت معادن را انجام داده می‌تواند.

۱٦- جواز اکتشافی: جوازی است که مطابق حکم فقره‌های (۱ و ۲) مادهٔ بیست و هشتم این قانون اعطا و بر مبنای آن اکتشاف در پروژه‌های معدنکاری به مقیاس بزرگ مطابق احکام این قانون، انجام می‌گردد.

۱۷- جواز بهره برداری: جوازی است که مطابق حکم فقره‌های (۳ و ۴) یا فقرهٔ (۹) مادهٔ بیست و هشتم این قانون اعطا و بر مبنای آن بهره برداری در پروژه های معدنکاری به مقیاس بزرگ مطابق احکام این قانون، انجام می‌گردد.

۱۸- جواز معدنکاری به مقیاس کوچک: جوازی است که مطابق حکم مادهٔ بیست و نهم این قانون اعطا و بر مبنای آن اکتشاف و بهره برداری در پروژه‌های معدنکاری به مقیاس کوچک به شمول فعالیت‌های معدنکاری حرفه‌ای مطابق

کې اکتشاف او ګټه اخیستنه تر سره کېږي.

۱۹- انتقالي جواز: انتقالي جواز عبارت دی له:

- هغه جواز یا قرارداد دی چې ددې قانون له نافذېدو څخه مخکې د وزارت په واسطه د منرالي حقوقو په هکله ورکړل شوی او یا انعقاد شوی دی.

- د منرالي حقوقو په هکله د وزارت په واسطه هر راز ورکړل شوی جواز یا منعقد شوی قرارداد چې د داوطلبۍ پروسه یې ددې قانون له نافذېدو څخه مخکې بشپړ شوی نه وي.

۲۰- د پروسس اجازه لیک: هغه اجازه لیک دی چې له مقررو سره سم صادر شوی او د هغه پربنا جواز لرونکی واک لري تر څو د جواز له ساحې پرته ځای کې، پروسس ترسره کړي.

۲۱- تولیدات: لومړني تولیدات، ثانوي تولیدات یا ثالث تولیدات دي.

۲۲- لومړني تولیدات: د منرالونو طبیعي ډله یا تراکم چې د کان کېندنې

احکام این قانون، انجام می‌گردد.

۱۹- جواز انتقالی: جواز انتقالی عبارت اند از:

- جواز یا قراردادی است که قبل از انفاذ این قانون توسط وزارت در مورد حقوق منرالی اعطا و یا انعقاد گردیده است.

- هر نوع جواز اعطا شده یا قرارداد منعقد شده توسط وزارت در مورد حقوق منرالی که پروسه داوطلبی آن قبل از انفاذ این قانون آغاز ولی تکمیل نگردیده باشد.

۲۰- اجازه نامهٔ پروسس: اجازه نامه‌ای است که مطابق مقرره‌ها صادر شده و بر مبنای آن دارندهٔ جواز صلاحیت دارد تا در مکانی به غیر از ساحه جواز، پروسس را انجام دهد.

۲۱- تولیدات: تولیدات اولیه، تولیدات ثانوی یا تولیدات ثالث می‌باشد.

۲۲- تولیدات اولیه: توده یا تراکم طبیعی منرال‌ها که توسط معدنکاری از

په واسطه له ځمکې څخه رااېستل شوي دي، په دې شرط چې پروسس يې يوازې د ډبرې ماتولو يا تصفيې (الک يا غربال کول) له لارې صورت موندلی وي او د کان ډبره (فلز لرونکې ډبره) هم په کې شاملېږي.

۲۳- ثانوي توليدات: د کاني ډبرې د توليداتو، متراکم شوو توليدات او متالورژيکي (metallurgical) توليداتو په ګډون چې په مقررو کې مشخص شوي دي او د هغه منرالي تراکم د ترلاسه کولو په منظور چې په مقررو کې مشخص شوي دي د لومړنيو توليداتو له پروسس څخه، ترلاسه کېږي.

۲۴- ثالث توليدات: هغه ځلا ورکړای شوي فلزات په کې شامل دي چې د هغه منرالي تراکم د ترلاسه کولو په منظور چې په مقررو کې مشخص شوی دی د هغه د ويلې کولو او يا ځلا ورکولو په ګډون د ثانوي توليداتو له پروسس څخه عبارت دی.

۲۵- شخص: شخص حقيقي يا حکمي شخص رانغاړي.

زمين استخراج شده است، مشروط بر اين‌که پروسس آن صرف از طريق سنگ شکنی يا تصفيه (اِلک يا غربال کردن) صورت گرفته باشد و سنگ معدن (سنگ دارای فلز) را نيز شامل می‌شود.

۲۳- توليدات ثانوی: شامل توليدات سنگ معدن، توليدات متراکم شده و توليدات متالورژيکی (metallurgical) که در مقرره‌ها مشخص گرديده و از پروسس توليدات اوليه به منظور بدست آوردن تراکم منرالی که در مقرره‌ها مشخص شده، حاصل می‌گردد.

۲۴- توليدات ثالث: شامل فلزات پالايش‌شده که از پروسس توليدات ثانوی به شمول ذوب يا پالايش آن به منظور بدست آوردن تراکم منرالی که در مقره‌ها مشخص شده است، می‌باشد.

۲۵- شخص: شخص شامل شخص حقيقی يا حکمی است.

۲۶- حکمي شخص: هغه حقوقي شخصیت دی چې د افغانستان د قوانینو یا د بهرني دولت د قانون د حکمونو پربنسټ تأسیس شوی وي.

۲۷- خصوصي شرکت: هغه شرکت دی چې د بها لرونکو پاڼو (بورس) د بازار په فهرست کې ثبت شوي نه وي.

۲۸- ثبت شوی شرکت: هغه حکمي شخص دی چې د بهالرونکو سندونو د بورس په بازار کې ثبت شوی وي.

۲۹- سیاسي نفوذ لرونکي اشخاص (Politically Exposed Person): عبارت دي له:

- جمهور رئیس او دهغه مرستیالان، وزیر، د سترې محکمې غړي او د سوداګریزو محکمو قاضیان، د ملي شورې غړی، د وزارت کارکوونکي د کانونو د تخنیکي کمېټې غړی، د جمهوري ریاست د مقام د دفتر کارکوونکي، د اقتصادي عالي شورې غړي د ملي تدارکاتو د کمېسیون غړی، د ملي تدارکاتو د ادارې غړی، د وزارت یا سلاکار یا د کانونو د تخنیکي

۲۶- شخص حُکمی: شخصیت حقوقی است که بر اساس احکام قوانین افغانستان یا قانون دولت خارجی تأسیس شده باشد.

۲۷- شرکت خصوصی: شرکتی است که در فهرست بازار اوراق بهادار (بورس) ثبت نگردیده باشد.

۲۸- شرکت ثبت شده: شخص حکمی است که در بازار بورس اسناد بهادار ثبت گردیده باشد.

۲۹- اشخاص با نفوذ سیاسی (Politically Exposed Person): عبارت اند از:

- رئیس جمهور و معاونین وی، وزیر، عضو ستره محکمه و قضات محاکم تجارتی، عضو شورای ملی، کارکنان وزارت، عضو کمیته تخنیکی معادن، کارکن دفتر مقام ریاست جمهوری، عضو شورای عالی اقتصادی، عضو کمیسیون تدارکات ملی، کارکن ادارۀ تدارکات ملی، مشاور وزارت یا مشاور کمیته تخنیکی

کمپنۍ سلاکار، نظامي لوړ پوړی افسر، لوړ پوړی ډیپلومات، والي، ښاروال او د وزارتونو او د دولتي ادارو معینان د دندې د تصدۍ په وخت کې او له هغه څخه درې کاله وروسته د هغوی مستقیم اقارب یوازې د ونډې د تصدۍ په وخت کې نوموړي اشخاص نفوذ لرونکي سیاسي اشخاص دي.

– په وزارتونو، دولتي ادارو او دولتي شرکتونو کې د دوه یم او له هغه د لوړ بست رئیسان د دندې د تصدۍ په وخت کې په دې بندکې د درج شوو اشخاصو مستقیم اقارب، نفوذ لرونکي سیاسي اشخاص ندي.

۳۰- مستقیم اقارب: هغه شخص دی چې د کورنۍ غړی دی د ښځې/میړه (زوج یا زوجه) پلار، مور، اولاد، خور، ورور، لمسي، د خور اولاد، د ورور اولاد، کاکا، عمه، ماما، خاله، خسر، خواښې د ښځې/میړه ورور او خور په شمول.

۳۱- مالک: هغه شـخص دی چـې نهایتاً له مالکیت یا کنترول څخه پــه

معادن، افسر عــالی رتبــه نظــامی، دیپلومــات عــالی رتبــه، والــی، شاروال و معینان وزارت‌ها و ادارات دولتی حین تصدی وظیفه و سه سال بعد از آن. اقارب مستقیم آنها صرف در حین تصــدی وظیفــهٔ اشــخاص مذکور اشخاص بــا نفــوذ سیاســی می‌باشند.

– رؤسای بست دوم و بالاتر از آن در وزارت‌ها، ادارات دولتی و شرکت‌های دولتی حین تصدی وظیفــه. اقــارب مستقیم اشخاص مندرج ایــن بنــد، اشــخاص بــا نفــوذ سیاســی نمی‌باشند.

۳۰- اقارب مستقیم: شخصی است که عضو خانواده بوده به شمول همسر (زوج یا زوجه)، پدر، مادر، فرزنــد، خواهر، برادر، نواسه، خــواهرزاده، برادرزاده، کاکا، عمه، ماما، خالــه، خُسر، خُشو، برادر همسر و خــواهر همسر.

۳۱- مالک: شخصی است که نهایتاً از مالکیت یا کنترول به صورت رسمی

رسمي یا غیر رسمي او یا مستقیم یا غیر مستقیم ډول ګټه وړي، په حکمي شخصیت کې د ونډو له لرلو څخه د ګټې یا له تولیت څخه د ګټې په ګډون.

۳۲- اکثریت مالک (Majority Owner): هغه شخص چې د حکمي شخص د ونډو له پنځوسو سلنې څخه د زیاتو مالک دی یا د حکمي شخص د رأیې اخیستنې پر واک له پنځو سلنې څخه زیات کنترول لري په رسمي یا غیر رسمي ډول او یا مستقیم یا غیرمستقیم، دغه تعریف په حکمي شخص کې د ونډو له لرلو څخه هر ډول غیر مستقیمه ګټه یا له تولیت څخه ګټه هم رانغاړي.

۳۳- معتبر مالک ( Substantial Owner): په هغه شخص اطلاق کېږي چې د ثبت شوي شرکت د ونډو د پنځه سلنې یا له پنځه سلنې څخه زیات مالک وي یا په ثبت شوي شرکت کې د رأیې ورکونې له واک څخه په پنځه سلنې یا له پنځه سلنې څخه زیات کنترول ولري. دغه مالکیت یا کنترول

یا غیر رسمی و یا مستقیم یا غیر مستقیم نفع می‌برد، به شمول منفعت از داشتن سهام در شخصیت حکمی یا منفعت از تولیت.

۳۲- مالک اکثریت (Owner Majority): شخصی که مالک بیشتر از پنجاه درصد سهام شخص حکمی است یا بر بیشتر از پنجاه درصد صلاحیت رای‌گیری شخص حکمی کنترول دارد، به صورت رسمی یا غیر رسمی و یا مستقیم یا غیر مستقیم. این تعریف هرنوع منفعت غیرمستقیم از داشتن سهام درشخص حکمی یا منفعت از تولیت را نیز شامل می‌شود.

۳۳- مالک معتبر ( Substantial Owner): به شخصی اطلاق می‌گردد که مالک پنج درصد یا بیشتر از پنج درصد سهام شرکت ثبت شده یا بر پنج درصد یا بیشتر از پنج درصد از صلاحیت رأی‌گیری در شرکت ثبت شده، کنترول داشته باشد. این مالکیت یا کنترول شامل داشتن

په حکمي شخصيت کې ونډې او يا په رسمي يا غير رسمي او يا مستقيم يا غير مستقيم ډول ګټه رانغاړي.

۳۴- ذينفع مالک (د اسمي مالک په وړاندې ربښتينی مالک): هغه حقيقي شخص دی چې نهايتاً له مالکيت يا کنترول څخه په رسمي يا غير رسمي او يا په مستقيم يا غير مستقيم ډول ګټه وړي، په حکمي شخصيت کې د ونډو له لرلو څخه د ګټې يا له توليت څخه د ګټې په ګډون. دغه تعريف هغواشخاصو ته نه شامليږي چې په هغه ثبت شوي شرکت کې د ونډو لرونکي دي چې د هغه د ثبت جزئيات خپاره شوي دي.

۳۵- په کنترول کې بدلون: هغه بدلون دی چې د ذينفع په مالکيت کې رامنځته کيږي او په حکمي شخصيت کې د شخص په واسطه د ونډو د پنځوس سلنې يا له هغه څخه زيات په ترلاسه کولو او يا د شخص په واسطه د رأيې ورکولو د واک د پنځوس سلنې يا له هغه څخه د زيات په ترلاسه کولو تماميږي. دغه تعريف په حکمي

سهام و يا نفع به صورت رسمی يا غير رسمی و يا مستقيم يا غيرمستقيم در شخصيت حکمی می‌گردد.

۳۴- مالک ذينفع (مالک واقعی در برابر مالک اسمی): شخص حقيقی است که نهايتاً از مالکيت يا کنترول به صورت رسمی يا غير رسمی و يا مستقيم يا غير مستقيم نفع می‌برد به شمول منفعت از داشتن سهام در شخصيت حکمی يا منفعت از توليت. اين تعريف شامل اشخاصی که دارای سهام در شرکت ثبت شدهٔ که جزئيات ثبت آن منتشر شده است، نمی‌شود.

۳۵- تغيير در کنترول: تغييری است که در مالکيت ذينفع ايجاد و منجر به کسب پنجاه درصد سهام يا بيشتر از آن توسط شخص و يا کسب پنجاه درصد صلاحيت رأی‌دهی يا بيشتر از آن توسط شخص در شخصيت حکمی می‌گردد. اين تعريف هرنوع منفعت غيرمستقيم از

شخصیت کې د ونډو له لرلو څخه هر ډول غیر مستقیمه ګټه یا له تولیت څخه ګټه رانغاړي.

۳۶- بررسي (پلټل) شوي حسابونه: د جواز لرونکي په واسطه د منرالونو له پلورنې یا لیږدونې څخه د تر لاسه شوو ناخالصه عوایدو حساب دی چې د رپوټ ورکونې د کال په بهیر کې برابر شوی او له اړوندو مقررو سره سم د بهرني بررس (پلټونکي) په واسطه بررسي (پلټل) شوی دی.

۳۷- د کادستري سروي نقشه: د هېواد د توپوګرافی نقشه ده.

۳۸- د توانمند اظهار لیک (Capability Statement): هغه سند دی چې په لنډ ډول د غوښتونکي تخنیکي او مالي ظرفیت او په مقررو کې د درج شوو شرطونو رعایت ښیي.

۳۹- د ټولنیزې پراختیا پلان: هغه پلان دی چې د جواز لرونکي د مکلفیتونو د اجراء کولو په منظور ددې قانون د شپږشپیتمې مادې د (۱) فقرې له حکم سره سم صادرېږي او په مقررو کې

داشتن سهام در شخصیت حکمی یا منفعت از تولیت را نیز شامل می‌شود.

۳۶- حساب های بررسی (تفتیش) شده: حساب عواید ناخالص حاصل شده از فروش یا انتقال منرال‌ها توسط دارنده جواز است که در جریان سال گزارش‌دهی تهیه شده و توسط بررس (مفتش) خارجی مطابق مقرره‌های مربوط بررسی (تفتیش) شده است.

۳۷- نقشهٔ سروی کادستری: نقشه توپوگرافی کشور است.

۳۸- اظهارنامهٔ توانایی (Capability Statement): سندی است که به صورت خلاصه ظرفیت تخنیکی و مالی متقاضی و رعایت شرایط مندرج در مقرره‌ها را نشان می‌دهد.

۳۹- پلان توسعه اجتماعی: پلانی است که به منظور اجرای مکلفیت‌های دارندهٔ جواز مطابق حکم فقرهٔ (۱) مادهٔ شصت و ششم این قانون صادر و شرایط مندرج در

درج شوي شرطونه په هغه کې رعایت شوي وي.

۴۰- د قانون له تطبیق څخه د څارنې مسؤول (Compliance Officer): هغه شخص دی چې وزارت هغه ددې قانون د شپږ پنځوسمې مادې د (۱) فقرې له حکم سره سم، ټاکي.

۴۱- ساختماني توکي: ډبره، آهک ډبره (د چونې ډبره)، جغل، د تیږې دانه یا شګه او بل هرهغه ډول منرال چې په ساختماني کارونو کې کارول کېږي او په مقررو کې د ساختماني توکو په نامه مشخص شوي وي.

۴۲- د ژوند چاپېریال ضمانت (Environmental Bond): هغه مالي تضمین دی چې جواز لرونکی یې د ژوند د چاپېریال د مدیریت په پلان کې د درج شوو ژمنو د اجراء کولو د ضمانت په توګه، له مقررو سره سم، وړاندې کوي.

۴۳- د ژوند چاپېریال د مدیریت پلان: هغه پلان دی چې د جواز لرونکي د مکلفیتونو د اجراء کولو په منظور

مقرره ها در آن رعایت گردیده باشد.

۴۰- مسؤول نظارت از تطبیق قانون (Compliance Officer): شخصی است که وزارت مطابق حکم فقرهٔ (۱) مادهٔ پنجاه و ششم این قانون وی را تعیین می‌نماید.

۴۱- مواد ساختمانی: سنگ، سنگ آهک (سنگ چونه)، جغل، سنگدانه یا ریگ و هر نوع منرال دیگری که در کارهای ساختمانی استفاده می‌شود و در مقرره‌ها به عنوان مواد ساختمانی مشخص شده اند.

۴۲- ضمانت محیط زیستی (Environmental Bond): تضمین مالی است که دارنده جواز به عنوان ضمانت اجرای تعهدات مندرج پلان مدیریت محیط زیستی، مطابق مقرره‌های مربوطه، ارایه می‌نماید.

۴۳- پلان مدیریت محیط زیستی: پلانی است که به منظور اجرای مکلفیت‌های دارنده جواز مطابق حکم

ددې قانون د دري شپېتمې مادې د (۲) فقرې له حکم سره سم، صادرېږي او له لاندې مواردو سره سم، دی:

– د اړوندو مقررو درج شوي شرایط.

– د ارزونې د سند درج شوي شرطونه، په هغه صورت کې چې د ژوند چاپېریال د اغېزو یا د اغېزو د کمښت د هر اړخیز پلان ارزونه د ژوند چاپېریال ساتنې د ملي ادارې په واسطه د ژوند د چاپېریال له قانون سره سم، لازمي بلل شوی وي.

۴۴- د ژوند د چاپېریال اجازه لیک: هغه سند دی چې د ژوند د چاپېریال د قانون د شپاړسمې مادې له حکم سره سم، صادرېږي.

۴۵- د ژوند د چاپېریال رپوټ: هغه رپوټ دی چې په لنډه توګه د یوې اړوندې دورې لپاره د ژوند د چاپېریال د مدیریت د پلان رعایتول یا نه رعایتول، د ژوند د چاپېریال تبعي اغېزې (پایلې) او د ژوند چاپېریال د اغېزو د کمښت لپاره هر ډول اقدامات رانغاړي او په مقرره کې له درج شوو

فقرهٔ (۲) مادهٔ شصت و سوم این قانون صادر و در مطابقت با موارد ذیل می‌باشد:

– شرایط مندرج مقرره‌های مربوطه.

– شرایط مندرج سند ارزیابی، در صورتی که ارزیابی اثرات محیط زیستی یا پلان جامع کاهش اثرات توسط اداره ملی حفاظت محیط زیست مطابق قانون محیط زیست لازمی دانسته شده باشد.

۴۴- اجازه نامه محیط زیستی: سندی است که مطابق حکم مادهٔ شانزدهم قانون محیط زیست صادر می‌شود.

۴۵- گزارش محیط زیستی: گزارشی است که به صورت خلاصه، برای یک دوره مرتبط، رعایت یا عدم رعایت پلان مدیریت محیط زیستی، تاثیرات تبعی (نتیجه‌ای) بر محیط زیست و هرنوع اقدامات جهت کاهش اثرات محیط زیستی را در بر دارد و در مطابقت با شرایط

شرایطو سره سم دی.

۴۶- تجهیزات: هغه لاسي یا ګرځنده تجهیزات، وسیله یا ماشین چې په منرالي فعالیتونو کې له هغو څخه ګټه اخیستل کېږي.

۴۷- د اکتشاف برنامه: د اکتشافي فعالیتونو برنامه او په هغې پورې اړوند لګښتونه دي چې جواز لرونکی د اکتشافي جواز د درج شوي وخت په موده کې د جواز په ساحه کې د هغې په تر سره کولو ژمن دی. دغه برنامه د هغو اکتشافي فعالیتونو په ماهیت، حدودو، موقعیت، وخت، مودې او لګښت پورې د ټولو اړوندو جزئیاتو لنډیز رانغاړي چې په وړاندیز شوي اکتشافي جواز کې د کال په بهیر کې د هغو اجراء کول، د مقررو له درج شوو شرطونو سره سم دي او د اته ویشتمې مادې د (۲) فقرې د حکم پربنا د اکتشافي جواز له ورکړې وروسته یا ددې قانون د دري دېرشمې مادې حکم پربنا په هغې کې بدلون منظورشوی وي.

۴۸- د اکتشاف رپوټ: هغه رپوټ

مندرج مقرره ها می باشد.

۴۶- تجهیزات: تجهیزات دستی یا سیار، ابزار یا ماشینی که در فعالیت‌های منرالی از آن استفاده می‌گردد.

۴۷- برنامه اکتشاف: برنامه ای فعالیت‌های اکتشافی و هزینه‌های مربوط به آن بوده که دارنده جواز متعهد به انجام آن در ساحه جواز در مدت زمان مندرج جواز اکتشافی می‌باشد. این برنامه شامل خلاصه تمام جزئیات مرتبط به ماهیت، حدود، موقعیت، زمان، مدت و هزینه فعالیت‌های اکتشافی است که اجرای آن در جریان سال در جواز اکتشافی پیشنهاد شده، مطابق شرایط مندرج مقرره‌ها بوده و بعد از اعطای جواز اکتشافی بر مبنای حکم فقرهٔ (۲) مادهٔ بیست و هشتم یا تغییر در آن مطابق حکم مادهٔ سی و سوم این قانون منظور گردیده باشد.

۴۸- گزارش اکتشاف: گزارشی است

دی چې د لاندې مواردو لرونکی وي:

- دکال په ربع کې د تر سره شوي اکتشاف لنډیز.

- د هغه منرال په اړوند د اکتشاف د پایلو لنډیز چې جواز د هغه لپاره ورکړل شوی دی.

- د هغو اړوندو پایلو وړاندې کول چې د هغه بل منرال د سرچینو د شتون څرګندوونکی وي چې د اقتصادي اهمیت لرونکی وي.

- په مقرروکې د درج شوو شرطونو سره سم وي.

۴۹- حق الزحمه (فیس): هغه پیسې دي چې داوطلب، قرارداد لرونکی، جواز لرونکی او د جواز غوښتونکی د اداري پړاوونو د تېرولو لپاره ددې قانون او د اړوندو مقررو له حکمونو سره سم، دولت ته ورکوي.

۵۰- د امکان سنجۍ مطالعه: هغه رپوټ دی چې د جواز په ساحه کې د کان کېندنې او د منرالونو د پروسس د امکان سنجونې لپاره هراړخیزه تخنیکي او مالي ارزونه وړاندې کوي او

که حاوی موارد ذیل می‌باشد:

- خلاصه اکتشاف انجام شده در ربع سال.

- خلاصه نتایج اکتشاف در ارتباط به منرالی که جواز برای آن اعطا گردیده است.

- ارایه نتایج مرتبط که نشان دهنده وجود منابع منرالی دیگری که دارای اهمیت اقتصادی باشد.

- مطابق شرایط مندرج مقرره ها باشد.

۴۹- حق‌الزحمه (فیس): وجوهی است که داوطلب، دارنده قرارداد، دارنده جواز و متقاضیان جواز برای طی مراحل اداری، مطابق احکام این قانون و مقرره‌های مربوطه به دولت پرداخت می‌نمایند.

۵۰- مطالعه امکان سنجی: گزارشی است که ارزیابی جامع تخنیکی و مالی را جهت امکان‌سنجی معدنکاری و پروسس منرال‌ها در ساحه جواز ارایه نموده و مطابق

په مقرروکې له درج شوو شرطونو سره سم وي.

۵۱- ناخالص عاید: هغه عاید دی چې د تولیداتو له پلورنې یا لېږدونې څخه تر لاسه کېږي، پرته له دې چې په هغه تخفیف یا کسر وضع شوی وي.

۵۲- روغتیایي او ایمني پلان: هغه پلان دی چې ددې قانون د نهه شپېتمې مادې د (۱) فقرې له حکم سره سم د جواز لرونکي د مکلفیتونو د اجراء کولو په منظور صادرېږي او په مقرروکې له درج شوو شرطونو سره سم وي.

۵۳- ښه جوړونه (Improvement) کور، ساختمان یا کرنیزه ځمکه ده.

۵۴- زیربنایي تأسیسات: له مقررو سره سم، ساختمانونه، د پروسس کارخونې، د کان د ډبرې د لېږدونې تجهیزات، د تولید شوې برېښنا د لېږدونې تجهیزات، د لېږدونې سیم، واټ، د اوسپنې پټلۍ او نل لیکه، د برمه کارۍ تجهیزات، د معدني توکو د زېرمې د بندونو انتها، ارتباطي تجهیزات او نور تأسیسات دي.

شرایط مندرج مقرره‌ها می‌باشد.

۵۱- عاید ناخالص: عایدی است که از فروش یا انتقال تولیدات حاصل می‌شود، بدون آن که تخفیف یا کسری بر آن وضع شده باشد.

۵۲- پلان صحی و ایمنی: پلانی است که به منظور اجرای مکلفیت‌های دارندهٔ جواز مطابق حکم فقرهٔ (۱) مادهٔ شصت و نهم این قانون صادر و در مطابقت با شرایط مندرج مقرره‌ها می‌باشد.

۵۳- بهسازی (Improvement): خانه، ساختمان یا زمین زراعتی است.

۵۴- تأسیسات زیربنایی: ساختمان‌ها، کارخانه‌های پروسس، تجهیزات انتقال سنگ معدن، تجهیزات انتقال برق تولید شده، سیم انتقال، جاده، خط آهن، خط لوله، تجهیزات برمه‌کاری، انتهای سدهای ذخیره مواد معدنی، تجهیزات ارتباطی و سایر تأسیسات مطابق مقرره‌ها می‌باشند.

۵۵-په ستر مقیاس د کان کیندنې ساحه: هغه ساحه ده چې د دې قانون د نولسمې مادې د (۱) فقرې د ۱ جزء له حکم سره سم، اعلامیږي.

۵٦- د جواز ساحه: په جوازکې له درج شوې ځمکې څخه هغه ساحه ده چې جواز لرونکی کولی شي ددې قانون له حکمونو سره سم په هغې کې په منرالي فعالیتونو لاس پورې کړي.

۵۷- د ثبت جزئیات (Listing Details): د بها لرونکو سندونو د بورس د بازار نوم او پته او د بها لرونکو سندونو د بورس په بازار کې د ثبت شوي شرکت کود دی.

۵۸- د سیمه ییزې ګټې پلان (Local Content Plan): هغه پلان دی چې ددې قانون د پنځه شپېتمې مادې د (۱) فقرې له حکم او په مقررو کې له درج شوو شرطونو سره سم، د جواز لرونکي د مکلفیتونو د اجراء کولو په منظور ترتیب شوی وي.

۵۹- د بازار ارزښت: د هغو تولیداتو

۵۵- ساحه معدنکاری به مقیاس بزرگ: ساحه‌ای است که مطابق حکم جزء ۱ فقرهٔ (۱) مادهٔ نزدهم این قانون اعلام می‌گردد.

۵٦- ساحه جواز: ساحه‌ای از زمین مندرج جواز است که دارندهٔ جواز می‌تواند مطابق احکام این قانون در آن به فعالیت‌های منرالی بپردازد.

۵۷- جزئیات ثبت (Listing Details): نام و آدرس بازار بورس اسناد بهادار و کود شرکت ثبت شده در بازار بورس اسناد بهادار می‌باشد.

۵۸- پلان مفاد محلی (Local Content Plan): پلانی است که به منظور اجرای مکلفیت‌های دارندهٔ جواز مطابق حکم فقرهٔ (۱) مادهٔ شصت و پنجم این قانون و شرایط مندرج مقرره‌ها ترتیب گردیده باشد.

۵۹- ارزش بازار: ارزش منصفانه

منصفانه ارزښت دی چې په بازار کې پلورل شوي یا په بــل ډول لېــږدول شوي دي. د یادو تولیداتو د پلورنې په وخت کې د دغه ارزښت سنجش لـــه مقررو سره سم، صورت مومي، د هغو شاخصونو د ارجاع ورکولو په ګډون چــې پـــه مقـــررو کـــې مشـــخص شوې دي.

۶۰- د کانونو د پرمختیا رپوټ: هغه رپوټ دی چې لاندې موارد په کـــې شامل وي:

- د جواز لرونکي پـــه واســـطه پـــه اکتشافي جوازکې د درج شوو شرطونو او د کان کېندنې په قراردادکې د درج شوو شرطونو د نه رعایتولو پېژندل.
- د امکان سنجۍ د مطالعې د پایلو او د کان کېندنې د وړاندیز لنډیز.
- د ګټې اخیستنې د پړاو په اړوند د کلیدي ژمنو لنډیز.
- د کان کېندنې په وړاندیز اړوند د هغو نوو شرطونو وړاندیز چې د ګټې اخیستنې پر جواز تطبیقیږي.

۶۱- د کان کېندنې وړاندیز: هغـــه

تولیداتی است که در بازار به فروش رسیده یا به نحو دیگـــری انتـــــقال داده شده است. سنجش این ارزش در زمان فروش تولیدات متذکره مطـــابق مقررەها صورت می‌گیرد، به شـــمول ارجاع دادن به شاخص های کـــه در مقـــررەهـــا مشـــخص گردیـــده است.

۶۰- گـــزارش انکشـــاف معـــادن: گزارشی است کـــه شـــامل مـــوارد ذیل باشد:

- شناسایی عدم رعایت شرایط مندرج جواز اکتشافی و شرایط مندرج قرارداد معـــــدنکاری توســـــط دارنـــــدۀ جواز.
- خلاصه نتایج مطالعه امکان‌سنجی و پیشنهاد معدنکاری.
- خلاصه تعهدات کلیدی در ارتباط به مرحله بهره‌برداری.
- پیشنهاد شرایط جدید مرتبط بـــه پیشنهاد معدنکاری کـــه بـــر جـــواز بهره‌برداری تطبیق گردد.

۶۱- پیشنهاد معـــــدنکاری: پیشنهاد

تفصيلي وړانديز دی چې د هغه پر بنا جواز لرونکی ژمن کیږي ترڅو په اکتشافي جوازکې د درج شوي وخت په موده کې د جواز په ساحه کې د ګټې اخیستنې په فعالیتونو او په هغو پورې په اړوندو لګښتونو لاس پورې کړي، د لاندې مواردو په ګډون:

– له هغو منرالي سرچینو څخه تفصيلي اټکل چې د بین المللي معیارونو (سټندردونو) پربنا تنظیم شوي دي.

– د کان تفصيلي پلان.

– د اټکل شوي وخت په موده کې له کان څخه د منرالي تولیداتو د اندازې تخمیني اټکل.

– د هغو ټولو زیربنایي تأسیساتو تشریح چې جوړیږي.

– د زیربنایي تأسیساتو د احداث لپاره د اړتیا وړ پانګې د لګښت اټکل.

– نور هغه معلومات چې په مقرروکې اټکل شوي دي او د اووه ویشتمې مادې د (۲) فقرې له حکم سره سم، د ګټې اخیستنې د جواز د ورکړې په واسطه، د اته ویشتمې مادې د (٦)

تفصيلی است که بر مبنای آن دارندۀ جواز متعهد می‌گردد تا به فعالیت‌های بهره‌برداری و هزینه‌های مرتبط آن در ساحه جواز در مدت زمان مندرج جواز اکتشافی بپردازد، به شمول:

– تخمین تفصيلی از منابع منرالی که بر مبنای معیارهای (استندردها) بین‌المللی تنظیم شده است.

– پلان تفصيلی معدن.

– پیش‌بینی تخمینی میزان تولیدات منرالی از معدن در مدت زمان پیش‌بینی شده.

– تشریح تمام تأسیسات زیربنایی که ساخته می‌شوند.

– تخمین هزینه سرمایه مورد نیاز برای احداث تأسیسات زیربنایی.

– سایر معلوماتی که در مقرره‌ها پیش‌بینی شده است و توسط اعطای جواز بهره برداری مطابق حکم فقرۀ (۲) مادۀ بیست و هفتم، توسط شورای عالی

فقرې له حکم سره سم، د اقتصادي عالي شورې په واسطه او یا د درې دېرشمې مادې د حکم پربنا په هغو کې د بدلون منظور شوی وي.

۶۲- د کانونو تخنیکي کمېټه: هغه کمېټه ده چې د دې قانون د اوومې مادې له حکم سره سم، تأسیس شوې او د دې قانون له اتمې مادې سره سم، فعالیت کوي.

۶۳- د ښاروالۍ تشویقي صندوق: هغه صندوق دی چې د ښاروالیو د قانون پربنا تشکیل شوی دی.

۶۴- بازرس (Ombudsman): هغه شخص دی چې ددې قانون د دوه شپېتمې مادې د (۱) فقرې له حکم سره سم، ټاکل کېږي.

۶۵- د ژمنو د اجراء ضمانت (Performance Bond): هغه مالي تضمین دی چې جواز لرونکی یې له مقررو سره سم، په اکتشافي برنامې یا د کان کېندنې په وړاندیز کې د درج شوو ژمنو د اجراء کولو د ضمانت په توګه وړاندې کوي.

اقتصادی مطابق حکم فقرۀ (۶) مادۀ بیست و هشتم و یا تغییر در آن بر مبنای حکم مادۀ سی و سوم منظور گردیده باشد.

۶۲- کمیته تخنیکی معادن: کمیته‌ای است که مطابق حکم مادۀ هفتم این قانون تأسیس و مطابق مادۀ هشتم این قانون فعالیت می‌نماید.

۶۳- صندوق تشویقی شاروالی: صندوقی است که بر مبنای قانون شاروالی‌ها تشکیل گردیده است.

۶۴- بازرس (Ombudsman): شخصی است که مطابق حکم فقرۀ (۱) مادۀ شصت و دوم این قانون تعیین می‌گردد.

۶۵- ضمانت اجرای تعهدات (Performance Bond): تضمین مالی است که دارندۀ جواز به عنوان ضمانت اجرای تعهدات مندرج برنامه اکتشافی یا پیشنهاد معدنکاری، مطابق مقرره‌ها ارایه می‌نماید.

**٦٦-ممنوعه ساحه: هغه ساحه ده چې ددې قانون د نولسمې مـادې د (۱) فقرې د ۳ جزء له حکم سره سـم، اعلام شوې ده.**

**٦٧- د ولايتي پرمختيا صندوق: هغه صندوق دی چې د سيمه ييزو ارګانونو د ادارې په واسطه له پرمختيايي برنامو څخه د ملاتړ په منظور په هغه ولايت کې چې په هغه پورې اړوند جواز صادر شـوی دی، رامنځتـه او مـديريت کېږي.**

**٦٨- د عامـه خـدمتونو مؤظـف (Public Official): پـه لانـدې اشخاصو اطلاق کېږي:**

**- د وزارت کارکوونکی.**

**- د کانونو د تخنيکي کمېټې غړی.**

**- د اقتصاي عالي شوري غړی.**

**- د کابينې غړی.**

**- د ملي تدارکاتو د کمېسيون غړی.**

**- د ملي تدارکاتو د ادارې کارکوونکی.**

**٦٩- راديو اکتيف منرالونه: هغه منرال دی چې د راديـو اکتيـف لږترلـږه (۰.۰۵) سلنې عنصر لرونکی وي.**

**٦٦- ساحهٔ ممنوعه: ساحه‌ای است که مطابق حکم جزء ۳ فقرهٔ (۱) مـادهٔ نزدهم اين قـانون اعـلام گرديـده است.**

**٦٧- صندوق انکشـاف ولايتـی: صندوقی اسـت کـه توسـط ادارهٔ ارگـان‌هـای محلـی بـه منظـور حمايت از برنامه‌هـای انکشـافی در ولايتی که جواز مرتبط به آن صـادر گرديـده، ايجـاد و مـديريت می‌گردد.**

**٦٨- مؤظـف خـدمات عامـه (Public Official): به اشخاص ذيل اطلاق می‌گردد:**

**- کارکن وزارت.**

**- عضو کميته تخنيکی معادن.**

**- عضو شورای عالی اقتصادی.**

**- عضو کابينه.**

**- عضو کميسيون تدارکات ملی.**

**- کارکن ادارهٔ تدارکات ملی.**

**٦٩- منرال های راديواکتيف: منرالی است که دارای حداقل (۰.۰۵) درصد عنصر راديواکتيف باشد.**

۷۰- د ځمکې نادره عناصر: هغه کیمیاوي عناصر دي چې سکاندیوم (Sc)، یو تریوم (Y)، لنتانیوم (La)، سیریوم (Ce)، پراسیودیمیوم (Pr)، نیودیمیوم (Nd)، پرومیتیوم (Pm)، سماریوم (Sm)، یوروپیوم (Eu)، ګودولینیوم (Gd)، تیربیوم (Tb)، دیسپروسیوم (Dy)، هولمیوم (Ho)، ایربیوم (Er)، تولیوم (Tm)، ایتیربیوم (Yb) او لوتیتیوم (Lu) پـه کـې شاملېږي.

۷۱- د رپوټ ورکوني کال: د جواز له ورکړې وروسته دوولس میاشتنۍ دوره ده.

۷۲- مقیده منرالونه: لاندې منرالونه رانغاړي:

- رادیواکتیف منرالونه.
- د ځمکې نادره عناصر.
- بیریلیم (Beryllium)، لیتیم (Lithium).
- هغه نور منرالونه چې په اړوندو مقررو کې مشخص شوي دي.

۷۳- د مقیده منرالونو برنامه: هغه هر

۷۰- عناصر نادرۀ زمین: عناصر کیمیاوی است که شامل سکاندیوم (Sc)، یوتریوم (Y)، لنتانیوم (La)، سیریوم (Ce)، پراسیودیمیوم (Pr)، نیودیمیوم (Nd)، پرومیتیوم (Pm)، سماریوم (Sm)، یوروپیوم (Eu)، گودولینیوم (Gd)، تیربیوم (Tb)، دیسپروسیوم (Dy)، هولمیوم (Ho)، ایربیوم (Er)، تولیوم (Tm)، ایتیربیوم (Yb) و لوتیتیوم (Lu)، می‌گردد.

۷۱- سال گزارش‌دهی: دورۀ دوازده ماهه بعد از اعطای جواز است.

۷۲- منرال های مقیده: شامل منرال‌های ذیل می‌باشد:

- منرال‌های رادیواکتیف.
- عناصر نادرۀ زمین.
- بیریلیم (Beryllium)، لیتیم (Lithium).
- سایر منرال‌های که در مقرره‌های مربوطه مشخص شده است.

۷۳- برنامه منرال های مقیده: برنامه

اړخيـــزه پرمختيـــايي، اقتصـــادي او ټکنالوژيکي برنامه ده چې له مقيــده منرالونو سره اړوند منرالي فعاليتونه، د هغو صادرات او ګټه اخيستنه تنظيموي، په مقررو کې د درج شوو مشخصاتو څرګندوونکې ده.

۷۴- رويالټي (حق الا متياز): د جواز لرونکي په واسطه دولت ته د ورکړې وړ وجه ده چې د جواز له ساحې څخه د هغو رااېستل شوو توليداتو څخه چې د کال د هرې ربعې په بهير کې پلورل شوي دي يا په بل ډول لېږدول شوي دي، محاســـبه او ددې قـــانون د يو پنځوسمې مادې د (۲) فقرې لـــه حکم سره سم، د توليد شوو توکو د لومړۍ پلورنې يا لېږدونې په پام کـــې نيولو سره سنجول کېږي.

۷۵- د رويالټي ارزښت: هغه وجه ده چې ددې قانون د يو پنځوسمې مادې د (۳) فقرې له حکم سره سم، سنجول کېږي.

۷٦- د رويالټي رپوټ: هغه رپوټ دی چې د لاندې مواردو لرونکی وي:

جامع انکشافی، اقتصادی و تکنالوژيکی است که فعاليت‌های منرالی مرتبط با منرال‌های مقيده، صادرات و استفاده آن را تنظيم نموده، نشـــان دهنـــده مشخصـــات منـــدرج مقـــرره‌هـــا، می‌باشد.

۷۴- رويالتی (حق‌الامتياز): وجه قابل پرداخت توسط دارندۀ جواز به دولت است که از توليدات استخراج شده از ساحه جـــواز کـــه در جريـــان هـــر ربـــع ســـال بـــه فـــروش رســـيده يـــا بـــه نحـــو ديگـــری انتـــــقال داده شده، محاسبه و مطابق حکـــم فقرۀ (۲) مادۀ پنجاه و يکم اين قانون، با درنظرداشت نخستين فروش يا انتقال مـــواد توليـــد شـــده ســـنجش می‌گردد.

۷۵- ارزش رويالتی: وجهی است که مطـــابق حکـــم فقـــرۀ (۳) مـــادۀ پنجاه و يکم ايـــن قـــانون ســـنجش می‌گردد.

۷٦- گزارش رويالتی: گزارشی است که حاوی موارد ذيل می‌باشد:

- د هغه منرال اندازه چې د کال د هرې ربعې په بهیر کې له ساحې څخه رااېستل شوی دی.
- د هغه منرال اندازه چې د کال د هرې ربعې په بهیر کې پلورل شوی یا په بل ډول لېږدول شوی دی.
- د هغه منرال مشخصات چې پلورل شوی یا په بل ډول لېږدول شوی دی.
- د هغه شخص هویت چې منرال په هغه پلورل شوی یا په بل ډول هغه ته لېږدول شوی وي.
- د کال د هرې ربعې په بهیر کې د منرال له پلورنې یا لېږدونې څخه تر لاسه شوی ناخالص عاید.
- د هغه منرال د بازار ارزښت چې د کال د هرې ربعې په بهیر کې پلورل شوی یا په بل ډول لېږدول شوی وي.

۷۷- په کوچني مقیاس زیربنا (Small-Scale Infrastructure)):
ساختمانونه، سړکونه، د اوبو د لېږدونې د نل غځونې سیستم او هر ډول نور تأسیسات چې په مقررو کې مشخص

- مقدار منرالی که از ساحه در جریان هر ربع سال استخراج شده است.
- مقدار منرالی که در جریان هر ربع سال به فروش رسیده یا به نحو دیگری انتقال داده شده است.
- مشخصات منرالی که به فروش رسیده یا به نحو دیگری انتقال داده شده است.
- هویت شخصی که منرال به او به فروش رسیده یا به نحو دیگری به وی انتقال داده شده باشد.
- عاید ناخالص حاصل از فروش یا انتقال منرال در جریان هر ربع سال.
- ارزش بازار منرالی که در جریان هر ربع سال به فروش رسیده یا به نحو دیگری انتقال داده شده باشد.

۷۷- زیربنا به مقیاس کوچک (Small-Scale Infrastructure):
ساختمان ها، سرک ها، سیستم لوله کشی آب و هر نوع تأسیسات دیگری که در مقرره‌ها مشخص شده

شوي وي.

۷۸- په کوچني مقیاس د کان کېدنې ساحه: هغه ساحه ده چې ددې قانون د نولسمې مادې د (۱) فقرې د ۲ جزء له حکم سره سم، اعلام شوې وي.

۷۹- په کوچني مقیاس کاري برنامه: د اکتشافي فعالیتونو، ګټه اخیستنې او په هغو پورې اړوند لګښتونه دي چې جواز لرونکی په کوچني مقیاس د کان کېندنې د جواز د درج شوي وخت په موده کې د جواز په ساحه کې د هغو په تر سره کولو ژمن دی او برنامه په مقررو کې د درج شوو شرطونو له مخې اجراء کېږي او د نهه ویشتمې مادې د (۷) فقرې له حکم سره سم، په کوچني مقیاس د کان کېندې د جواز د ورکړې یا ددې قانون له دري دېرشمې مادې سره سم، په هغه کې بدلون منظور شوی وي.

۸۰- د ځمکې د سطحې حق الاجاره: هغه وجه ده چې په کال په کال له مقررو سره سم، د جواز لرونکي له لوري دولت یا د جواز د ساحې مالک یا

باشد.

۷۸- ساحه معدنکاری به مقیاس کوچک: ساحه ای است که مطابق حکم جزء ۲ فقرهٔ (۱) مادهٔ نزدهم این قانون اعلان گردیده باشد.

۷۹- برنامه کاری به مقیاس کوچک: برنامه ای فعالیت‌های اکتشافی، بهره برداری و هزینه‌های مربوط به آن‌ها است که دارنده جواز متعهد به انجام آن در ساحه جواز در مدت زمان مندرج جواز معدنکاری به مقیاس کوچک بوده و برنامه بر اساس شرایط مندرج در مقرره‌ها اجرا می‌گردد و توسط اعطای جواز معدنکاری به مقیاس کوچک مطابق حکم فقرهٔ (۷) مادهٔ بیست و نهم، یا تغییر در آن مطابق مادهٔ سی و سوم این قانون منظور گردیده باشد.

۸۰- حق‌الاجارهٔ سطح زمین: وجهی است که سالانه از طرف دارندهٔ جواز به دولت، مالک یا متصرف ساحهٔ جواز مطابق مقرره‌ها پرداخت

متصرف ته ور کول کېږي

۸۱- تخنیکي رپوټ: هغه رپوټ دی چې په لنډه توګه، هغه منرالي فعالیتونه چې د اړوندې مودې په بهیر کې ترلاس لاندې نیول شوي دي، په لګښتونو پورې د اړوند جزئیاتو په ګډون او د مقررو له درج شوو شرطونو سره سمون رانغاړي.

## دوه یم فصل

## دندې او واکونه

### د وزارت دندې او واکونه

پنځمه ماده:

(۱) وزارت د لاندې دندو لرونکی دی:

۱- ددې قانون د اتمې مادې د (۲) فقرې له حکم سره سم، د کانونو تخنیکي کمېټې ته د لازم ملاتړ برابرول.

۲- د دې قانون د نولسمې مادې له حکمونو سره سم، په ستر مقیاس د کان کېندنې د ساحې، په کوچنې مقیاس د کان کېندنې د ساحې او ممنوعه ساحې اعلان او د هغوی لغو کول.

می‌گردد.

۸۱- گزارش تخنیکی: گزارشی است که به صورت خلاصه، فعالیت‌های منرالی که در جریان مدت مرتبط روی‌دست گرفته شده است، به شمول جزئیات مرتبط با هزینه‌ها و مطابقت با شرایط مندرج مقرره‌ها، را دربر دارد.

## فصل دوم

## وظایف و صلاحیت‌ها

### وظایف و صلاحیت‌های وزارت

مادۀ پنجم:

(۱) وزارت دارای وظایف ذیل می‌باشد:

۱- فراهم نمودن حمایت لازم به کمیته تخنیکی معادن مطابق حکم فقرۀ (۲) مادۀ هشتم این قانون.

۲- اعلان ساحۀ معدنکاری به مقیاس بزرگ، ساحۀ معدنکاری به مقیاس کوچک و ساحۀ ممنوعه مطابق احکام مادۀ نزدهم این قانون و لغو آن‌ها.

۳- ددې قانون له اتـه ويشـتمې او نهه ويشتمې مادو له حکمونو سره سم د جوازونو ورکړه.

۴- ددې قانون له دري دېرشمې مادې له حکم سره سم، په کوچني مقياس په اکتشافي برنـامو، د کـان کېنـدنې وړانديزونه يا په کاري برنامو کـې د بدلون تأييد يا رد.

۵- ددې قانون د پنځـه شـپېتمې، شپږ شپېتمې او اويايمې مادو له حکمونو سره سم، د سيمه ييزې ګټې پلان، د ټولنيزې پراختيا پلان او روغتيـايي او ايمني پلان ارزونه، تأييد يا ردول.

۶- ددې قـانون د يوويشـتمې او دوه ويشتمې مادو له حکمونو سره سم، د ثبت دفتر او د کادستري سـروې نقشې ساتل.

۷- د دې قانون د يـو دېرشـمې، دوه دېرشـمې، اووه دېرشـمې، اته دېرشمې او نهه دېرشمې مادو لـه حکمونو سره سم، د اجرائيوي واک په ګډون د جوازونو اجراء کول.

۸- ددې قانون د څلوېښتمې مادې د

۳- اعطای جوازها مطابق احکام مواد بيست و هشتم و بيست و نهم ايـن قانون.

۴- تأييد يا رد تغيير در برنامه‌هـای اکتشافی، پيشنهادات معدنکاری يـا برنامه‌های کاری بـه مقياس کوچک مطابق حکم مادۀ سی و سـوم ايـن قانون.

۵- ارزيابی، تأييد يا رد پلان مفـاد محلی، پلان توسعه اجتماعی و پـلان صحی و ايمنی مطابق احکـام مـواد شصت و پنجم، شصت و ششـم و هفتادم اين قانون.

۶- حفظ دفتر ثبت و نقشۀ سـروی کادسـتری مطـابق احکـام مـواد بيست و يکم و بيسـت و دوم ايـن قانون.

۷- اجرای جوازها به شمول صلاحيت اجرائيـوی مطـابق احکـام مـواد سی و يکم، سی و دوم، سی و هفتم، سی و هشتم و سـی و نهـم ايـن قانون.

۸- ادارۀ قراردادهای معدنکاری مطابق

(۷) فقرې له حکم سره سم، د کان د کېندنې د قراردادونو اداره.

۹- ددې قانون د شپږ دېرشمې مادې له حکــم ســره ســم د صـــادراتي پالیسیو برابرول.

۱۰- ددې قانون د څلېریشتمې مادې له حکم سره سم، د ثبت د دفترونـــو مدیریت.

۱۱- ددې قانون د پنځه ویشتمې او دوه شپېتمې مادو له حکمونو سره سم، د معلوماتو خپرول.

۱۲- ددې قانون د څلوېښتمې مادې له حکم سره سم، د نمونوي کان کېندنې د قراردادونو برابرول او ترتیب.

۱۳- د دې قانون د یو څلوېښتمې او شپږ څلوېښتمې مادو له حکمونو سره سم، د کان کېندنې د قرارداد د ورکړې او اجراء لپاره د داوطلبۍ د بهیر تـــر سره کول.

۱۴- ددې قانون د دري څلوېښتمې مادې له حکم سره سم، د داوطلبۍ د وړاندیزونو رد یا تأیید.

۱۵- د دې قانون د نهه څلوېښـــتمې

حکم فقرهٔ (۷) مـــادهٔ چهلــم ایـــن قانون.

۹- تهیه پالیســی هـــای صـــادراتی مطابق حکم مـــادهٔ ســی و ششـــم این قانون.

۱۰- مدیریت دفاتر ثبــت مطـــابق حکم مادهٔ بیســـت و چهـــارم ایـــن قانون.

۱۱- نشر معلومات مطابق احکام مواد بیســـت و پـــنجم و شصـــت و دوم این قانون.

۱۲- تهیه و ترتیـــب قراردادهـــای معدنکاری نمونوی مطابق حکم مادهٔ چهلم این قانون.

۱۳- برگذاری پروســـه داوطلبـــی جهـــت اعطـــا و اجـــرای قـــرارداد معدنکاری مطـــابق احکـــام مـــواد چهل و یکم و چهل و ششـــــم این قانون.

۱۴- رد یا تأیید پیشنهادات داوطلبـــی مطابق حکم مادهٔ چهل و سوم ایـــن قانون.

۱۵- جمع آوری رویالتی مطابق حکم

مادې د(۳) فقرې له حکم سره سم، رویالټي راټولول.

۱۶- ددې قانون د درې پنځوسمې، څلور پنځوسمې او پنځه پنځوسمې مادو له حکمونو سره سم، د ژمنو د اجراء کولو ضمانت یا د ژوند د چاپېریال د ضمانت ساتنه او مدیریت.

۱۷- ددې قانون د حکمونو او ددې قانون له دوه پنځوسمې، درې پنځوسمې او شپږ پنځوسمې تر دوه شپېتمې مادو سره سم په جوازونوکې د درج شوو شرایطو له تطبیق څخه څارنه.

۱۸- ددې قانون د څلور اویایمې مادې له حکم سره سم، له انتقالي جواز سره د کان کېندنې د قرارداد د ځای ناستي کولو په منظور د دغه قرارداد مذاکره.

(۲) وزارت د لاندې واکونو لرونکی دی:

۱- ددې قانون د حکمونو تطبیق او اجراء کول او د منرالي فعالیتونو تنظیم.

۲- ددې قانون د تطبیق او اجراء کولو لپاره د کلنې پلان برابرول او د تأیید په

فقرۀ (۳) مادۀ چهل و نهم این قانون.

۱۶- حفظ و مدیریت ضمانت اجرای تعهدات یا ضمانت محیط زیستی مطابق احکام مواد پنجاه و سوم، پنجاه و چهارم و پنجاه و پنجم این قانون.

۱۷- نظارت از تطبیق احکام این قانون و شرایط مندرج جوازها مطابق احکام مواد پنجاه و دوم، پنجاه و سوم، پنجاه و ششم الی شصت و دوم این قانون.

۱۸- مذاکرۀ قرارداد معدنکاری به منظور جایگزینی آن با جواز انتقالی مطابق حکم مادۀ هفتاد و چهارم این قانون.

(۲) وزارت دارای صلاحیت‌های ذیل می‌باشد:

۱- تطبیق و اجرای احکام این قانون و تنظیم فعالیت‌های منرالی.

۲- تهیه پلان سالانه جهت تطبیق و اجرای این قانون و ارایه آن

غرض اقتصادي عالي شوري ته د هغه وړاندې کول.

۳- اقتصادي عالي شوري ته د تأييد لپاره د پاليسيو، کړنلارو لارښودونو طرح او وړاندې کول.

۳- د اکتشافي یا ګټې اخیستنې جواز لرونکی په کنترول کې له بدلون څخه وروسته، د لازمو تخنیکي او مالي ظرفیتونو لرونکی وي.

مکلف است تأیید وزارت را مطابق مقررهٔ مربوط طور کتبی کسب نماید.

(۲) هرگاه تغییر قبل از اخذ تأیید وزارت صورت گیرد، جواز تا زمانی که وزارت تغییر را تأیید نکرده باشد، تعلیق شده پنداشته می‌شود.

(۳) وزارت با درنظرداشت حالات ذیل، تغییر در کنترول دارندهٔ جواز را تأیید می‌نماید:

۱- دارندهٔ جواز تمام احکام این قانون را رعایت نموده باشد.

۲- در مورد جواز اکتشافی یا جواز بهره برداری، تمام شرایط مندرج قرارداد معدنکاری را رعایت نموده باشد.

۳- دارندهٔ جواز اکتشافی یا بهره برداری، بعد از تغییر در کنترول، دارای ظرفیت‌های لازم تخنیکی و مالی باشد.

## د جواز يا د جواز د ګټې لېږدونه

**نهه دېرشمه ماده:**

(۱) جواز لرونکی نه شـي کـولی، د جواز يا د جواز ګټه بل شخص تـه ولېږدوي، خو دا چې:

۱- جواز لرونکي پخوا د وزارت تأييد اړوندو مقررو سره سم، په ليکلي ډول تر لاسه کړی وي.

۲- د اکتشافي جواز يا د ګټې اخيستنې جواز لرونکی د کان کېندنې د قرارداد ټول درج شوي شرطونه رعايت کړي وي.

(۲) وزارت په لاندې حالاتو کې کولی شي بل شخص ته د جواز يا د جواز د ګټې لېږدونه تأييد کړي:

۱- جواز لرونکی ددې قانون ټـول حکمونه رعايت کړي وي.

۲- د اکتشافي جواز يا د ګټې اخيستنې د جواز په هکله جواز لرونکی د کان کېندنې د قرارداد ټـول درج شـوي شرطونه رعايت کړي وي.

۳- د اکتشافي جواز يا د ګټې اخيستنې

## انتقال جواز يا منفعت جواز

**مادۀ سی و نهم:**

(۱) دارندۀ جواز نمی‌تواند، جواز يا منفعت جواز را به شخصی ديگـری انتقال دهد، مگر اين‌که:

۱- دارندۀ جواز قبلاً تأييدی وزارت را طـور کتبی مطابق مقرره‌های مربوطه کسب نموده باشد.

۲- دارندۀ جواز اکتشافی يا جواز بهره برداری، تمام شرايط مندرج قرارداد معـدنکاری را رعايـت نمـوده باشد.

(۲) وزارت در حالات ذيل می‌تواند، انتقال جواز يا منفعت جـواز را بـه شخص ديگری تأييد نمايد:

۱- دارندۀ جواز تمام احکام اين قانون را رعايت نموده باشد.

۲- در مورد جواز اکتشافی يا جواز بهره برداری، دارندۀ جـواز تمـامی شرايط مندرج قرارداد معدنکاری را رعايت نموده باشد.

۳- در مـورد جـواز اکتشـافی

د جواز په هکله په کنترول کې له بدلون څخه وروسته جواز لرونکی د کافي تخنيکي او مالي ظرفيت لرونکی وي.

## اتم فصل

## د کان کېندنې قرارداد او د داوطلبۍ د پړاوونو تېرول

**د کان کېندنې قرارداد**

**څلوېښتمه ماده:**

(۱) د کان کېندنې قرارداد يوازې په لاندې حالاتو کې منعقد کېږي:

۱- د دې قانون د څلوراويايمې مادې د (۵) فقرې له حکم سره سم، انتقالي جواز د ځای ناستې په منظور له مذاکرې وروسته.

۲- ددې قانون د يو څلوېښتمې مادې له حکم سره سم، د داوطلبۍ د پروسې تر سره کول.

(۲) د کان کېندنې قرارداد د لاندې شرطونو تابع دی:

۱- ددې قانون له حکمونو سره سم وي.

يا جواز بهره برداری، بعد از تغيير در کنترول، دارندۀ جواز دارای ظرفيت کافی تخنيکی و مالی باشد.

## فصل هشتم

## قرارداد معدنکاری و طی مراحل داوطلبی

**قرارداد معدنکاری**

**مادۀ چهلم:**

(۱) قرارداد معدنکاری صرف در حالات ذيل منعقد می‌گردد:

۱- بعد از مذاکرات به منظور جايگزينی جواز انتقالی مطابق حکم فقرۀ (۵) مادۀ هفتاد و چهارم اين قانون.

۲- راه اندازی پروسه داوطلبی مطابق حکم مادۀ چهل و يکم اين قانون.

(۲) قرارداد معدنکاری تابع شرايط ذيل می‌باشد:

۱- در مطابقت با احکام اين قانون باشد.

۲- د اړوند نمونوي کان کېنـــدنې د قرارداد پربنسټ وي. دا کار د داوطلبۍ په وړاندیز یا په هغو هوکړو کې چې د داوطلبۍ په پروسه کې تر سره شـــوي دي د هر ډول مشخصو شوو بدلونونو په پام کې نیولو سره، صورت مومي.

۳- د داوطلبۍ له وړاندیز سره ســـم وي.

۴- رويالټي ددې قانون له حکمونـــو سره سم، ثبت شوي وي.

۵- قرارداد لرونکی، وزارت د کان کېندنې د قرارداد لرونکي په ذينفـــع مالک کې په هر ډول بدلون خبر کړي.

٦- د حکمي کورني امنيت په هکله تصريح شي چې له هغه سره سم، د کان کېندنې قرارداد لرونکی لاندې موارد اجراء کړي:

- د جواز په ساحه کې د کورني امنيت د خطر ارزونه.

- له وزارت سره په مشوره کـــې د کورني امنيت د پلان ترتيب او برابرول.

- د کورني امنيتي پلان اجراءکول.

- د کورني امنيتي د پلان د اجراءکولو

۲- براساس قـــرارداد معـــدنکاری نمونوی مربوطه باشد. این امـــر بـــا درنظرداشـــت هرنـــوع تغییـــرات مشخص‌شده در پیشنهاد داوطلبی یـــا توافقاتی که در پروسه داوطلبی انجام شده است، صورت می‌گیرد.

۳- در مطابقت با پیشنهاد داوطلبی باشد.

۴- رویالتی مطابق به احکام این قانون ثبت گردیده باشد.

۵- دارندهٔ قرارداد، وزارت را از هر گونه تغییر در مالک ذینفع دارنـــدهٔ قرارداد معدنکاری مطلع سازد.

٦- در مورد امنیت داخلی حکمـــی تصریح گردد که مطابق آن دارنـــدهٔ قرارداد معدنکاری موارد ذیل را اجراء نماید:

- ارزیابی خطر امنیت داخلی در ساحه جواز.

- تهیه و ترتیب پلان امنیتی داخلی در مشوره با وزارت.

- اجرای پلان امنیتی داخلی.

- پرداخت هزینه اجرای پلان امنیتی

د لګښت ورکړه.

(۳) د کان کېندنې په هغه قرارداد کې چې د ګټې اخيستنې د جواز د ورکړې په منظور منعقد کېږي، لاندې موارد په هغه کې مشخص کېږي:

۱- د کان کېندنې د قرارداد له اجراء سره سم، د ګټې اخيستنې د جـواز د ورکړې په هکله د وزارت مکلفيت، د کان کېندنې په قرارداد کې د درج شوو ژمنو د اجراء د ضمانت او د مخکينيو شرايطو د اجراءکولو د ضـمانت د وړاندې کولو په شرط.

۲- د کان کېندنې د قرارداد لرونکي له لوري د ګټې اخيستنې د پړاو په اړوند د کان کېندنې د وړانديز او نورو ژمنو اجراء او رعايتول.

۳- د کان کېندنې په وړانديز کې د درج شوو ژمنو په هکلـه د ژمنـو د اجراءکولو د ضمانت مشخصول.

(۴) د کان کېندنې هغه قرارداد چې په پايله کې يې اکتشافي جواز او د ګټې اخيستنې د جواز د ورکړې د تقدم حق ورکول کېږي، لاندې موارد رانغاړي:

داخلی.

(۳) در قرارداد معدنکاری که به منظور اعطای جواز بهره بــرداری منعقــد می‌گردد، موارد ذیل در آن مشخص می‌گردد:

۱- مکلفيــــت وزارت در مـــــورد اعطـــای جـــواز بهـــره بـــرداری به محض اجرای قرارداد معدنکاری، مشـــروط بـــه ارايـــه ضـــمانت اجرای تعهدات و اجــرای شــرايط متقـــــدم منـــــدرج در قـــــرارداد معدنکاری.

۲- اجراء و رعايت پيشنهاد معدنکاری و ساير تعهدات در ارتباط با مرحلــه بهره برداری از طرف دارندۀ قرارداد معدنکاری.

۳- مشخص کردن ضمانت اجــرای تعهدات در مورد تعهدات مندرج در پيشنهاد معدنکاری.

(۴) قــــرارداد معـــدنکاری کــــه در نتيجه آن جواز اکتشافی و حق تقدم اعطای جواز بهــره بـــرداری اعطـــا می‌گردد، شامل موارد ذيل می‌باشد:

۱- د کان کېندنې په قراردادکې له اجراء سره سم، د اکتشافي جواز د ورکړې په هکله د وزارت مکلفیت، د کان کېندنې په قراردادکې د درج شوو ژمنو د اجراء او د مخکینیو شرایطو د اجراء د ضمانت د وړاندې کولو په شرط.

۲- د کان کېندنې د قرارداد لرونکي له لوري د اکتشافي برنامې او د اکتشافي پړاو په اړوند د نورو ژمنو اجــراء او رعایتول.

۳- د کان کېندنې په وړانـدیزکې د درج شوو ژمنو په هکله د ژمنو د اجراء د ضمانت مشخصول.

(۵) وزارت مکلف دی، ددې مادې د (۴) فقرې له حکم سره سم، د ګټې اخیستنې جواز په لاندې شرطونو پورې مشروط ورکړي:

۱- د کان کېندنې قرارداد لرونکي، دکان کېندنې د قرارداد شـرطونه او ددې قانون حکمونه د هغـه د ټولـو اساسي اړخونو په پام کې نیولو سـره رعایت کړي وي.

۱- مکلفیـت وزارت در مـورد اعطای جواز اکتشافی بـه محـض اجـرای قـرارداد معـدنکاری، مشـروط بـه ارایـه ضـمانت اجرای تعهدات و اجـرای شـرایط متقـدم منـدرج قـرارداد معدنکاری.

۲- اجراء و رعایت برنامه اکتشافی و سایر تعهداتی در ارتباط بـا مرحلـه اکتشافی از طرف دارنـدهٔ قـرارداد معدنکاری.

۳- مشخص کردن ضمانت اجـرای تعهدات در ارتباط به تعهدات مندرج پیشنهاد معدنکاری.

(۵) وزارت مکلف است، مطابق حکم فقرهٔ (۴) این ماده جواز بهره برداری را مشروط به شـرایط ذیـل اعطـا نماید:

۱- دارنـدهٔ قـرارداد معـدنکاری شـرایط قـرارداد معـدنکاری و احکام این قانون را بادرنظرداشت تمام جوانب اساسی آن رعایت نموده باشد.

۲- د کان کېندنې قرارداد لرونکی د امکان سنجی مطالعه او د کان کېندنې وړاندیز وزارت ته سپارلی دی.

۳- اقتصاي عالي شوري د کان کېندنې وړاندیز تأیید کړی وي او د کان کېندنې په وړاندیز پورې اړوند هغه شرطونه چې د ګټې اخیستنې په جواز د تطبیق وړ دي، مشخص کړي وي.

(٦) د کان کېندنې په قرارداد کې کېدای شي لاندې حکمونه شامل شي، خو په لاندې حکمونو پورې محدود نه دی:

۱- د تقنیني اصلاحاتو په وړاندې ثبات.

۲- د کان کېندنې د قرارداد لرونکي په واسطه د عامه کارونو د لګښتونو پراختیا او ورکړه.

۳- دولت ته د هغو لګښتونو ورکړه چې موده یې د کان کېندنې له قرارداد سره سم رارسېدلې ده.

۴- د کان کېندنې له قرارداد سره سم، دکان کېندنې د قرارداد لرونکي د مکلفیتونو د اجراء کولو لپاره د هغه

۲- دارندهٔ قرارداد معدنکاری مطالعه امکان سنجی و پیشنهاد معدنکاری را به وزارت تسلیم نموده است.

۳- شورای عالی اقتصادی پیشنهاد معدنکاری را تأیید نموده و شرایط مرتبط با پیشنهاد معدنکاری را که قابل تطبیق بر جواز بهره برداری است، مشخص نموده باشد.

(٦) قرارداد معدنکاری می تواند شامل احکام ذیل گردد، اما محدود به احکام ذیل نمی‌باشد:

۱- ثبات در مقابل اصلاحات تقنینی.

۲- توسعه و پرداخت هزینه‌های کارهای عامه توسط دارندهٔ قرارداد معدنکاری.

۳- پرداخت هزینه‌های که موعد آن به دولت مطابق قرارداد معدنکاری فرا رسیده است.

۴- تضمین مالی دارندهٔ قرارداد معدنکاری برای اجرای مکلفیت های وی مطابق قرارداد

مالي تضمین.
۵- د کان کېندنې د قرارداد تخصیص یا لېږدونه.
٦- د شخړې حل.
(۷) د کان کېندنې قرارداد نه شي کولی، د دې قانون له حکمونو سره سم، د حکومت د واکونو د اجراء کولو خنډ وګرځي.
(۸) وزارت د لاندې مواردو د اجراء کولو په ګډون د دولت په استازیتوب د کان کېندنې د قرارداد په اداره کولو او اجراء کولو مکلف دی:
۱- د کان کېندنې له قرارداد سره سم، د دولت د مکلفیتونو له اجراء کولو څخه د ډاډ تر لاسه کول.
۲- د کان کېندنې له قرارداد سره سم، د دولت د حقوقو اجراء کول.
۳- د کان کېندنې له قرارداد سره سم، د کان کېندنې د قرارداد لرونکي د مکلفیتونو له رعایتولو څخه څارنه.
۴- د کان کېندنې د قرارداد لرونکي پرخلاف د قرارداد د فسخه په ګډون د بې پروایی یا قصور او د زیان د جبران د

معدنکاری.
۵- تخصیص یا انتقال قرارداد معدنکاری.
٦- حل منازعه.
(۷) قرارداد معدنکاری نمی‌تواند، مانع اجرای صلاحیت‌های حکومت مطابق احکام این قانون گردد.
(۸) وزارت مکلف به اداره و اجرای قرارداد معدنکاری به نمایندگی از دولت به شمول اجرای موارد ذیل می‌باشد:
۱- حصول اطمینان از اجرای مکلفیت های دولت مطابق قرارداد معدنکاری.
۲- اجرای حقوق دولت مطابق قرارداد معدنکاری.
۳- نظارت از رعایت مکلفیت‌های دارنده قرارداد معدنکاری مطابق قرارداد معدنکاری.
۴- صدور اطلاعیه مبنی بر کوتاهی یا قصور و اعمال وسایل جبران خساره به

وسايلو د عملي كولو په هكله د خبرتيا صادرول په هغه صورت كې چې د كان كېندنې قرارداد د هغه له لوري نقض شي.

(۹) وزارت كولى شي، د كانونو د تخنيكي كمېټې د مشورې او د اقتصادي عالي شورې د تأييد له اخيستلو وروسته د لاندې مواردو په پام كې نيولو سره د كان كېندنې قرارداد فسخه كړي:

۱- د كان كېندنې د قرارداد له شرايطو سره سم.

۲- په هغه صورت كې چې د كان كېندنې قرارداد لرونكى ددې قانون د اوولسمې مادې د (۱) فقرې له حكم د شرايطو لرونكى نه وي.

(۱۰) وزارت د اقتصادي عالي شورې د تأييد لپاره لاندې موارد ترتيبوي:

۱- د ګټې اخيستنې د جواز د وركړې لپاره د نمونوي كان كېندنې قرارداد.

۲- د اكتشافي جواز د وركړې او د ګټې اخيستنې د جواز د وركړې د تقدم د حق لپاره د نمونوي كان كېندنې

شمول فسخ قرارداد بر عليه دارندهٔ قرارداد معدنكارى در صورتى كه قرارداد معدنكارى از سوى وى نقض گردد.

(۹) وزارت مى‌تواند بعد از اخذ مشوره كميته تخنيكى معادن و تأييد شوراى عالى اقتصادى با درنظرداشت موارد ذيل قرارداد معدنكارى را فسخ نمايد:

۱- در مطابقت با شرايط قرارداد معدنكارى.

۲- در صورتى كه دارندهٔ قرارداد معدنكارى واجد شرايط حكم فقرهٔ (۱) مادهٔ هفدهم اين قانون نباشد.

(۱۰) وزارت براى تأييد شوراى عالى اقتصادى موارد ذيل را ترتيب مى‌نمايد:

۱- قرارداد معدنكارى نمونوى براى اعطاى جواز بهره بردارى.

۲- قرارداد معدنكارى نمونوى براى اعطاى جواز اكتشافى و حق تقدم اعطاى جواز

قرارداد.

**د داوطلبۍ د پروسې تر سره کول**

**یو څلوېښتمه ماده:**

(۱) وزارت مکلف دی، د هغې ځمکې په اړوند چې په ستر مقیاس د کان کېندنې په ساحه کې واقع شوې ده، د کان کېندنې د قرارداد د ورکړې لپاره د داوطلبۍ پروسه تر سره کړي.

(۲) وزارت مکلف دی، د وزارت په وبسایټ، بین المللي وبسایټونو، په سیمه ییزو او ملي ورځپاڼو او د اړتیا په صورت کې په بین المللي ورځپاڼو کې د خبرتیا د خپرولو په واسطه د کان کېندنې د قرارداد د ورکړې په منظور د داوطلبۍ پروسه چې لاندې معلومات په کې شاملېږي، پیل کړي:

۱- د کان کېندنې د قرارداد په اړوند د داوطلبۍ په پروسه کې د لاندې موارد و مشخصول:

- د ګټې اخیستنې د جواز ورکړه.
- د اکتشافي جواز او د ګټې اخیستنې د جواز د ورکړې د تقدم د حق ورکړه.

بهره برداری.

**برگزاری پروسهٔ داوطلبی**

**مادهٔ چهل و یکم:**

(۱) وزارت مکلف است، پروسه داوطلبی را برای اعطای قرارداد معدنکاری در ارتباط به زمین که در ساحه معدنکاری به مقیاس بزرگ واقع شده است راه اندازی نماید.

(۲) وزارت مکلف است، پروسهٔ داوطلبی را به منظور اعطای قرارداد معدنکاری توسط نشر اطلاعیه‌ای در وبسایت وزارت، وبسایت‌های بین‌المللی، روزنامه‌های محلی و ملی و در صورت لزوم روزنامه‌های بین‌المللی که شامل معلومات ذیل می‌گردد، آغاز نماید:

۱- مشخص نمودن موارد ذیل در پروسهٔ داوطلبی در ارتباط به قرارداد معدنکاری:

- اعطای جواز بهره برداری.
- اعطای جواز اکتشافی و حق تقدم اعطای جواز بهره برداری.

۲- هغه ځمکه چې د داوطلبۍ پروسې ته وړاندې کېږي.
۳- د داوطلبۍ په پروسه کې د ګډون په منظور په شــرطونو د برابروالــي معيارونه، د پروسې لنډيز او په شرطونو د برابروالي د پايته رسېدو نېټه.
۴- د داوطلبۍ د وړانديز د ســپارلو وروستۍ نېټه چې د داوطلبۍ له اعلان وروسته له دېرشو (۳۰) ورځو څخه کمېداى نشي.
۵- د داوطلبۍ د ضمانت اندازه چې داوطلبان د هغه په ورکړې مکلــف دي.

## د داوطلبۍ په پروسه کې ګډون

دوه څلوېښتمه ماده:

(۱) وزارت مکلف دی، د کان کېندنې قرارداد د ورکړې لپاره د داوطلبۍ په پروسه کې د لاندې مواردو له ترسره کولو څخه ډاډ ترلاسه کړي:
۱- د هغو ټولو داوطلبانو لپاره چــې ددې قــانون د اوولســمې مــادې د (۱) فقرې له حکم سره سم، د جواز د

۲- زمینی که به پروســه داوطلبــی گذاشته می‌شود.
۳- معیارهای واجد شرایط بــودن، خلاصه پروسه و تاریخ خــتم واجــد شرایط بودن به منظور اشــتراک در پروسهٔ داوطلبی.
۴- آخرین تاریخ تسلیمی پیشــنهاد داوطلبی که نمی‌تواند کمتر از ســی (۳۰) روز بعد از اعــلان داوطلبــی باشد.
۵- مقدار ضمانت داوطلبــی کــه داوطلبان مکلف بــه پرداخــت آن می‌باشند.

## اشتراک در پروسهٔ داوطلبی

مادهٔ چهل و دوم:

(۱) وزارت مکلف است، در پروسه داوطلبی جهــت اعطــای قــرارداد معدنکاری از انجام موارد ذیل اطمینان حاصل نماید:
۱- فراهم نمودن فرصت منصــفانه برای اشتراک در پروســهٔ داوطلبــی بـــرای تمـــام داوطلبـــان کـــه

ترلاسه کولو د شرایطو لرونکي وي او د داوطلبۍ د وړاندیز د وړاندې کولو لپاره د داوطلبۍ د مخکینیو شرایطو د بشپړولو په دلیل رابلل شوي دي د داوطلبۍ په پروسه کې د ګډون لپاره د منصفانه فرصت برابرول.

۲- د داوطلبۍ د پروسې علني او شفاف تر سره کول.

(۲) وزارت مکلف دی،د هغو ټولو داوطلبانو لپاره چې د داوطلبۍ په پروسه کې یې ګډون کړی دی، لاندې موارد برابر کړي:

۱- د داوطلبۍ د شرایطو د ارزونې معیارونه.

۲- د فرصتونو په هکله معلومات.

۳- د نمونوي کان کیندنې د قرارداد یو نقل.

۴- د هغو ژمنو د اجراءکولو د ضمانت ډول او اندازه چې اړین دي.

۵- د داوطلبۍ له شرایطو سره اړوند نور شرطونه.

واجد شرایط دریافت جواز مطابق حکم فقرۀ (۱) مادۀ هفدهم این قانون باشند و به دلیل تکمیل پیش شرطهای داوطلبی جهت ارایه پیشنهاد داوطلبی دعوت شده اند.

۲- برگزاری علنی و شفاف پروسه داوطلبی.

(۲) وزارت مکلف است، برای تمام داوطلبانی که در پروسه داوطلبی شرکت نموده اند، موارد ذیل را فراهم نماید:

۱- معیارهای ارزیابی شرایط داوطلبی.

۲- معلومات در مورد فرصت‌ها.

۳- یک نقل از قرارداد معدنکاری نمونوی.

۴- شکل و مقدار ضمانت اجرای تعهدات که ضروری است.

۵- سایر شرایط مرتبط با شرایط داوطلبی.

**د داوطلبۍ وړاندیز**

**دري څلوېښتمه ماده:**

(۱) د داوطلبۍ وړاندیز په داسې ډول چې د وړاندیزونو په غوښتنلیک او له مقررو سره سم الزامي دي، سپارل کېږي.

(۲) د داوطلبۍ وړاندیز لاندې معلومات رانغاړي:

۱- د داوطلب د ذینفع مالکینو په هکله شهرت او جزئیات.

۲- د ژوند چاپېریال د مدیریت وړاندیز شوي پلان.

۳- د سیمه ییزې ګټې وړاندیزشوي پلان.

۴- روغتیایي او ایمني وړاندیز شوي پلان.

۵- هغه جدول چې د هغو بدلونونو څرګندوی وي چې د نمونوي کان کېندنې پر قرارداد وړاندیز شوی دی.

۶- د داوطلبۍ د پروسې د ارزونې اړوند معلومات.

(۳) که چېرې د داوطلبۍ پروسه د کان

**پیشنهاد داوطلبی**

**مادۀ چهل و سوم:**

(۱) پیشنهاد داوطلبی به شکلی که در درخواست پیشنهادات و مطابق مقررهها الزامی است، تسلیم می‌گردد.

(۲) پیشنهاد داوطلبی شامل معلومات ذیل می‌باشد:

۱- شهرت و جزئیات در مورد مالکین ذینفع داوطلب.

۲- پلان مدیریت محیط زیستی پیشنهادی.

۳- پلان مفاد محلی پیشنهادی.

۴- پلان صحی و ایمنی پیشنهادی.

۵- جدولی که نشان دهنده تغییراتی باشد که بر قرارداد معدنکاری نمونوی پیشنهاد شده است.

۶- معلومات مرتبط با ارزیابی پروسه داوطلبی.

(۳) هرگاه پروسه داوطلبی برای

کېندنې د هغه قرارداد لپاره وي چې د هغو په پایله کې اکتشافي جــواز او د ګټې اخیستنې د جواز د ورکړې د تقدم حق ورکول کېږي، د داوطلبۍ وړاندیز ددې مادې په (۲) فقره کې لــه درج شوو موادو برسېره، اکتشافي برنامه هم رانغاړي.

(۴) که چېرې د داوطلبۍ پروسه د کان کېندنې د هغه قرارداد لپاره وي چې د هغو په پایله کې د ګټې اخیستنې جواز ورکول کېږي، د داوطلبۍ وړاندیز ددې مادې په (۲) فقره کې ددرج شــوو موادو برسېره، لاندې مــوارد هــم رانغاړي:

۱ – د کان کېندنې وړاندیز.

۲ – د ټولنیزې پراختیا وړاندیز شوي پلان.

(۵) وزارت کولی شي، د داوطلبــۍ وړاندیز په لاندې حالاتو کې رد کړي:

۱– د داوطلبۍ وړاندیز په ټاکلې نېټه سپارل شوی نه وي.

۲– د داوطلبۍ وړاندیز د داوطلبــۍ شرایط مشخص کړي نه وي.

قــرارداد معــدنکاری باشــد کــه در نتیجــه آن جــواز اکتشــافی و حق تقدم اعطای جواز بهره بــرداری اعطا می‌گردد، پیشــنهاد داوطلبــی علاوه بر مواد مندرج فقرهٔ (۲) ایــن ماده شامل برنامــه اکتشــافی نیــز می‌گردد.

(۴) هرگاه پروسه داوطلبــی بــرای قــرارداد معــدنکاری باشــد کــه در نتیجه آن جواز بهــره بــرداری اعطا می‌گردد، پیشنهاد داوطلبی علاوه بر موارد منــدرج فقــرهٔ (۲) ایــن مــاده، شــامل مــوارد ذیــل نیــز می‌گردد:

۱– پیشنهاد معدنکاری.

۲– پــــلان توســــعه اجتمــــاعی پیشنهادی.

(۵) وزارت مــی‌توانــد، پیشــنهاد داوطلبی را در حالات ذیل رد نماید:

۱– پیشنهاد داوطلبی در تاریخ معینه تسلیم نشده باشد.

۲– پیشنهاد داوطلبی شرایط داوطلبی را مشخص ننموده باشد.

۳- هغه داوطلب چې ددې قانون د اوولسمې مادې د (۱) فقرې په درج شوو شرایطو برابر نه وي یا یاد شرطونه یې له لاسه ورکړي وي.

۴- داوطلب له بل داوطلب سره جوړ جاړي کړې وي.

۵- داوطلب ددې قانون د دیارلسمې مادې په ګډون د بډې او اداري فساد په اړوند نافذ قوانین نقض کړي وي.

(٦) وزارت کولی شي، د داوطلبۍ د وړاندیز او په هغه پورې د اړوندو معلوماتو په هکله د زیات وضاحت غوښتنه وکړي. د هر هغه ډول بدلون په ګډون چې د نمونوي کان کېندنې د قرارداد په اړوند په هغه جدول کې چې د داوطلبۍ وړاندیز د یوې برخې په توګه وړاندې شوی دی، وړاندیز شوی وي.

(۷) وزارت مکلف دی، د منل شوې داوطلبۍ ټول وړاندیزونه د کانونو تخنیکي کمېټې ته وسپاري.

(۸) وزارت مکلف دی، د داوطلبۍ د ارزونې په اړوند ددې قانون د اتمې

۳- داوطلبی که واجد شرایط مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ هفدهم این قانون نباشد یا شرایط متذکره را از دست داده باشد.

۴- داوطلب با داوطلب دیگر سازش نموده باشد.

۵- داوطلب قوانین نافذ مرتبط با رشوت و فساد اداری به شمول مادهٔ سیزدهم این قانون را نقض نموده باشد.

(٦) وزارت می‌تواند، در ارتباط به پیشنهاد داوطلبی یا معلومات مرتبط با آن خواستار وضاحت بیشتر گردد به شمول هر نوع تغییری که در ارتباط با قرارداد معدنکاری نمونوی در جدولی که بعنوان بخشی از پیشنهاد داوطلبی ارایه شده، پیشنهاد شده باشد.

(۷) وزارت مکلف است، تمام پیشنهادات داوطلبی پذیرفته شده را به کمیته تخنیکی معادن تسلیم نماید.

(۸) وزارت مکلف است، تمام حمایت‌های لازم را برای کمیته تخنیکی

مادې د (۲) فقرې له حکم سره سم، د کانونو تخنیکي کمېټې ته ټول لازم ملاتړ برابر کړي.

## د داوطلبۍ د ارزونې پروسه

**څلورڅلوېښتمه ماده:**

(۱) د کانونو تخنیکي کمېټه مکلفه ده، په هغه صورت کې چې د کان کېندنې په قرارداد پورې اړوند د داوطلبۍ پروسه یوازې د ګټې اخیستنې د جواز د ورکړې په منظور وي، د کان کېندنې د وړاندیز او د ګټې اخیستنې د پړاو په اړوند د هغو نورو ژمنو په پام کې نیولو سره چې ددې قانون د دري څلوېښتمې مادې د (۲) فقرې په ۲، ۳، ۴ او ۵ جزونو او د (۴) فقرې ۱ او ۲ جزونو په یادو سندونو کې صورت موندلي وي، و ارزوي.

(۲) د کانونو تخنیکي کمېټه مکلفه ده، په هغه صورت کې چې د کان کېندنې په قرارداد پورې اړوند د داوطلبۍ پروسه د اکتشافي جواز او د ګټې اخیستنې جواز د ورکړې د تقدم د حق

معادن مطابق حکم فقرۀ (۲) مادۀ هشتم این قانون در ارتباط به ارزیابی داوطلبی‌ها فراهم نماید.

## پروسۀ ارزیابی داوطلبی

**مادۀ چهل و چهارم:**

(۱) کمیته تخنیکی معادن مکلف است، درصورتی که پروسه داوطلبی مرتبط به قرارداد معدنکاری صرف به منظور اعطای جواز بهره برداری باشد با درنظرداشت پیشنهاد معدنکاری و سایر تعهدات مرتبط با مرحله بهره‌برداری که در اسناد متذکره در اجزای ۲، ۳، ۴ و ۵ فقرۀ (۲) و اجزای ۱ و ۲ فقرۀ (۴) مادۀ چهل و سوم این قانون صورت گرفته باشد، ارزیابی نماید.

(۲) کمیته تخنیکی معادن مکلف است، درصورتی که پروسۀ داوطلبی مرتبط به قرارداد معدنکاری به منظور اعطای جواز اکتشافی و حق تقدم اعطای جواز بهره

د ورکړې په منظور وي، د داوطلبۍ سندونه د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره و ارزوي:

۱- اکتشافي برنامه.

۲- هغه ژمنې چې د اکتشافي پړاو په اړوند ددې قانون د دري څلویښتمې مادې د (۲) فقرې په ۲، ۳، ۴ او ۵ جزونو او د (۳) فقرې په ۱ او ۲ جزونو کې په یادو سندونو کې صورت موندلي وي، په دغو ژمنو کې هغه ژمنې چې د ګټې اخیستنې د پړاو په اړوند صورت موندلي دي، نه شاملېږي.

(۳) د کانونو تخنیکي کمېټه مکلفه ده، داوطلبۍ، د داوطلبیو د ارزونې لپاره د مشخصو شوو شرطونو په پام کې نیولو سره و ارزوي.

(۴) د کانونو تخنیکي کمېټه کولی شي، د داوطلبۍ د وړاندیز په هکله له وزارت څخه د وضاحت او د بدلون د هر وړاندیز په ګډون چې په هغه خروجي چارټ کې د مشخصې شوې نمونوي کان کېندنې په قرارداد کې چې د داوطلبۍ د وړاندیز د یوې برخې په

برداری باشد، اسناد داوطلبی را با درنظرداشت موارد ذیل ارزیابی نماید:

۱- برنامه اکتشافی.

۲- تعهداتی که در اسناد متذکره در اجزای ۲، ۳، ۴ و۵ فقرۀ (۲) و اجزای ۱ و ۲ فقرۀ (۳) مادۀ چهل و سوم این قانون در ارتباط به مرحله اکتشافی صورت گرفته باشد. این تعهدات شامل تعهداتی که در ارتباط به مرحله بهره‌برداری صورت گرفته است، نمی‌گردد.

(۳) کمیته تخنیکی معادن مکلف است، داوطلبی‌ها را با درنظرداشت شرایط مشخص شده برای ارزیابی داوطلبی‌ها، ارزیابی نماید.

(۴) کمیته تخنیکی معادن می‌تواند، در مورد پیشنهاد داوطلبی از وزارت خواستار وضاحت و معلومات بیشتر به شمول هر پیشنهاد تغییری که در قرارداد معدنکاری نمونوی مشخص شده در چارت خروجی که به حیث جزء از پیشنهاد

توګه سپارل شوي دي، د زياتو معلوماتو غوښتنه وکړي.

(۵) د کانونو تخنيکي کمېټه کولی شي، د نمونوي کان کېندنې د قرارداد لپاره د بېلابېلو وړانديزونو په هکله د خبرو مسؤوليت بل شخص ته تفويض کړي.

(٦) د کانونو تخنيکي کمېټه مکلف ده، د داوطلبۍ وړانديزونه و ارزوي، مرجح داوطلب او ريزرف داوطلب وړانديز او د ارزونې رپوټ چې د هغه د داوطلبۍ د وړانديزونو د ارزونې لنډيز راونغاړي، برابر کړي.

## د کان کېندنې د قرارداد د ورکړې پړاوونه

پنځه څلوېښتمه ماده:

(۱) اقتصادي عالي شوري مکلفه ده، د مرجح داوطلب مالي او تخنيکي ځواکمني بررسي کړي او هم کولی شي د کانونو د تخنيکي کمېټې په واسطه د ارزونې برابر شوی رپوټ، د کانونو د تخنيکي کمېټې په واسطه د مرجح

داوطلبی تسلیم گردیده است، گردد.

(۵) کمیته تخنیکی معادن می‌تواند، مسؤولیت مذاکرات در مورد پیشنهادات مختلف برای قرارداد معدنکاری نمونوی را به شخص دیگری تفویض نماید.

(٦) کمیته تخنیکی معادن مکلف است، پیشنهادات داوطلبی را ارزیابی، داوطلب مرجح و داوطلب ریزرف را پیشنهاد و گزارش ارزیابی که در برگیرنده خلاصه از ارزیابی پیشنهادات داوطلبی آن باشد، را تهیه نماید.

## مراحل اعطای قرارداد معدنکاری

مادۀ چهل و پنجم:

(۱) شورای عالی اقتصادی مکلف است، توانایی مالی و تخنیکی داوطلب مرجح را بررسی نماید و نیز می تواند، بادرنظرداشت گزارش ارزیابی تهیه شده توسط کمیته تخنیکی معادن، پیشنهاد داوطلب

داوطلب د وړاندیز، له مرجح داوطلب سره د کان کېندنې د قرارداد لپاره د وړاندیز شوو شرطونو او د ملي تدارکاتو د ادارې په واسطه د څارنې د برابر شوي رپوټ په پام کې نیولو سره لاندې اقدامات تر سره کړي:

۱- د مرجح داوطلب ته د کان کنېدنې د قرارداد د ورکړې تأیید.

۲- مرجح داوطلب ته د کان کېندنې د قرارداد د ورکړې تأیید، په دې شرط چې د کان کېندنې په قرارداد کې له بدلونونو سره د موافقې صورت موندلی وي.

۳- مرجح داوطلب ته د کان کېندنې د قرارداد د ورکړې رد.

۴- د داوطلبۍ د پروسې فسخ.

(۲) د ملي تدارکاتو کمېسیون مکلف دی، ددې قانون د اووه څلوېښتمې مادې د (۱) فقرې د ۲ جزء له حکم سره سم، د اقتصادي عالي شورې د غیر مشروطې تأییدۍ د اخیستلو او د ملي تدارکاتو د ادارې په واسطه د څارنې د برابر شوي رپوټ او له مرجح

مرجح توسط کمیته تخنیکی معادن، شرایط پیشنهاد شده برای قرارداد معدنکاری با داوطلب مرجح و گزارش نظارت تهیه شده توسط ادارۀ تدارکات ملی اقدامات ذیل را انجام دهد:

۱- تأیید اعطای قرارداد معدنکاری برای داوطلب مرجح.

۲- تأیید اعطای قرارداد معدنکاری برای داوطلب مرجح، مشروط بر این‌که با تغییرات در قرارداد معدنکاری موافقت صورت گرفته باشد.

۳- رد اعطای قرارداد معدنکاری برای داوطلب مرجح.

۴- فسخ پروسه داوطلبی.

(۲) کمیسیون تدارکات ملی مکلف است، بادرنظرداشت اخذ تأییدی غیر مشروط شورای عالی اقتصادی و گزارش نظارت تهیه شده توسط ادارۀ تدارکات ملی مطابق حکم جزء ۲ فقرۀ (۱) مادۀ چهل و هفتم این قانون

داوطلب سره د کان کېندنې د قرارداد لپاره د وړاندې شوو شرطونو په پام کې نيولو سره لاندې اقدامات تــر ســره کړي:

۱- مرجع داوطلب ته د کان کېندنې د قرارداد د ورکړې تأييد، په هغه صورت کې چې قانع شوی وي چې د داوطلبۍ پروسې د دې قانون د دوه څلوېښتمې مادې د (۱) فقرې درج شوې موخــه بشپړه کړې، د دې قانون حکمونه او د کان کېندنې د قــرارداد درج شــوي شرايط يې رعايت کړي دي.

۲- د داوطلبۍ د پروسې فسخ، په هغه صورت کې چې قانع شوی نه وي.

(۳) کابينه کولی شي، د اقتصادي عالي شوري او د ملي تدارکاتو د کمېسيون د تأييدۍ د اخيستلو په پام کې نيولو سره او د کانونو د تخنيکي کمېټې په واسطه د ارزونې د برابر شوي رپــوټ او د مرجع داوطلب په اړوند د کــانونو د تخنيکي کمېټې د وړانديز په پام کــې نيولو سره لاندې اقدامات تــر ســره کړي:

و شـــــرايط پيشـــــنهاد شـــــده براى قرارداد معدنکارى با داوطلـــب مـــرجع اقـــدامات ذيـــل را انجـــام دهد:

۱- تأييد اعطاى قرارداد معـــدنکارى براى داوطلب مرجع، در صورتى که قانع شده باشد که پروسۀ داوطلبـــى هـــدف منـــدرج فقـــرۀ (۱) مـــادۀ چهل و دوم اين قانون را تکميل، احکام اين قانون و شرايط مندرج قـــــرارداد معـــــدنکارى را رعايـــــت نمـــــوده است.

۲- فسخ پروسه داوطلبى، در صورتى که قانع نگرديده باشد.

(۳) کابينه مى‌تواند، بادرنظرداشت اخذ تأييدى شوراى عـــالى اقتصـــادى و کميســـيون تـــدارکات ملـــى و بادرنظرداشـــت گـــزارش ارزيـــابى تهيه شده توســـط کميتـــه تخنيکـــى معادن و پيشنهاد کميتـــه تخنيکـــى معـــادن در ارتبـــاط بـــا داوطلـــب مرجع، اقـــدامات ذيـــل را انجـــام دهد:

۱- مرجح داوطلب ته د کان کېندنې د قرارداد د ورکړې تصویب.
۲- مرجح داوطلب ته د کان کېندنې د قرارداد د ورکړې رد.
۳- د داوطلبۍ د پروسې فسخ.
(۴) که چېرې اقتصادي عالي شوري یا کابینه مرجح داوطلب ته د کان کېندنې د قرارداد ورکړه رد کړي او یا په هغه صورت کې چې مرجح داوطلب د کان کېندنې د قرارداد په اجراء کولو بریالی نه شي د کانونو تخنیکي کمېټه د ریزرف داوطلب په وړاندیز مکلف دی.
(۵) اقتصادي عالي شوري مکلفه ده، د ریزرف داوطلب مالي او تخنیکي ځواکمني بررسي کړي او کولی شي د کانونو د تخنیکي کمېټې په واسطه د ارزونې برابر شوی رپوټ، د ریزرف داوطلب په اړوند د کانونو د تخنیکي کمېټې د وړاندیز، له ریزرف داوطلب سره د کان کېندنې د قرارداد لپاره د وړاندیز شوو شرطونو او د ملي تدارکاتو د ادارې په واسطه د څارنې د برابر شوي رپوټ په پام کې نیولو سره،

۱- تصویب اعطای قرارداد معدنکاری به داوطلب مرجح.
۲- رد اعطای قرارداد معدنکاری به داوطلب مرجح.
۳- فسخ پروسه داوطلبی.
(۴) هرگاه شورای عالی اقتصادی یا کابینه اعطای قرارداد معدنکاری را برای داوطلب مرجح رد نماید و یا در صورتیکه داوطلب مرجح موفق به اجرای قرارداد معدنکاری نگردد، کمیته تخنیکی معادن مکلف به پیشنهاد داوطلب ریزرف می‌باشد.
(۵) شورای عالی اقتصادی مکلف است، توانایی مالی و تخنیکی داوطلب ریزرف را بررسی نماید و می‌تواند، بادرنظرداشت گزارش ارزیابی تهیه شده توسط کمیته تخنیکی معادن، پیشنهاد کمیته تخنیکی معادن در ارتباط با داوطلب ریزرف، شرایط پیشنهاد شده برای قرارداد معدنکاری با داوطلب ریزرف و گزارش نظارت تهیه شده توسط ادارۀ تدارکات ملی، اقدامات ذیل را انجام

لاندې اقدامات تر سره کړي:

۱- ریزرف داوطلب ته د کان کېندنې د قرارداد د ورکړې تأیید.

۲- ریزرف داوطلب ته د کان کېندنې د قرارداد د ورکړې تأیید، په دې شرط چې د کان کېندنې په قرارداد کې له بدلونونو سره موافقې صورت موندلی وي.

۳- د داوطلبۍ د پروسې فسخ.

(٦) د ملي تدارکاتو کمېسیون مکلف دی، ددې قانون د اووه څلوېښتمې مادې د (۱) فقرې د ۲ جزء له حکم سره سم، د اقتصادي عالي شورې د غیر مشروطې تأییدۍ د اخیستلو او د ملي تدارکاتو د ادارې په واسطه د څارنې د برابر شوي رپوټ او له ریزرف داوطلب سره د کان کېندنې د قرارداد لپاره د وړاندیز شوو شرایطو په پام کې نیولو سره، لاندې اقدامات تر سره کړي:

۱- ریزرف داوطلب ته د کان کېندنې د قرارداد د ورکړې تأیید، په هغه صورت کې چې قانع شوی وي چې د

دهد:

۱- تأیید اعطای قرارداد معدنکاری به داوطلب ریزرف.

۲- تأیید اعطای قرارداد معدنکاری برای داوطلب ریزرف، مشروط بر این که با تغییرات در قرارداد معدنکاری موافقت صورت گرفته باشد.

۳- فسخ پروسه داوطلبی.

(٦) کمیسیون تدارکات ملی مکلف است، بادرنظرداشت اخذ تأییدی غیر مشروط شورای عالی اقتصادی و گزارش نظارت تهیه شده توسط ادارۀ تدارکات ملی مطابق حکم جزء ۲ فقرۀ (۱) مادۀ چهل و هفتم این قانون و شرایط پیشنهاد شده برای قرارداد معدنکاری با داوطلب ریزرف اقدامات ذیل را انجام دهد:

۱- تأیید اعطای قرارداد معدنکاری به داوطلب ریزرف، درصورتی که قانع گردیده باشد که

داوطلبۍ پروسې ددې قانون د دوه څلویښتمې مادې د (۱) فقرې درج شوې موخه بشپړه کړې، ددې قانون حکمونه او د کان کېندنې د قرارداد درج شوي شرطونه رعايت کړي دي.

۲- د داوطلبۍ د پروسې فسخ، په هغه صورت کې چې قانع شوی نه وي.

(۷) کابينه کولی شي، د ريزرف داوطلب په اړوند د اقتصادي عالي شورې او د ملي تدارکاتو د کمېسيون د تأييدۍ د اخيستلو په پام کې نيولو سره او د کانونو د تخنيکي کمېټې په واسطه د ارزونې د برابر شوي رپوټ او د کانونو د تخنيکي کمېټې د وړانديز په پام کې نيولو سره لاندې اقدامات تر سره کړي:

۱- ريزرف داوطلب ته د کان کېندنې د قرارداد د ورکړې تصويب.

۲- د داوطلبۍ د پروسې فسخ.

## دکان کېندنې د قرارداد اجراءکول

### شپږڅلويښتمه ماده:

(۱) د کابينې په واسطه د کان کېندنې

پروسه داوطلبی هدف مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ چهل و دوم این قانون را تکمیل، احکام این قانون و شرایط مندرج قرارداد معدنکاری را رعایت نموده است.

۲- فسخ پروسه داوطلبی، در صورتی که قانع نگردیده باشد.

(۷) کابینه می‌تواند، بادرنظرداشت اخذ تأییدی شورای عالی اقتصادی و کمیسیون تدارکات ملی و بادرنظرداشت گزارش ارزیابی تهیه شده توسط کمیته تخنیکی معادن و پیشنهاد کمیته تخنیکی معادن در ارتباط با داوطلب ریزرف اقدامات ذیل را انجام دهد:

۱- تصویب اعطای قرارداد معدنکاری به داوطلب ریزرف.

۲- فسخ پروسه داوطلبی.

## اجرای قرارداد معدنکاری

### مادهٔ چهل و ششم:

(۱) بعد از تصویب اعطای قرارداد

د قرارداد د ورکـــړې لــه تصــویب وروسته، د کانونو او پترولیم وزیر د دولت په استازیتوب د کان کېنــدنې قرارداد اجراء کوي او ډاډ تر لاســه کوي چې بریالی داوطلــب د کــان کېندنې قرارداد تطبیقوي.

(۲) د کان کېندنې قرارداد ددې قانون د پنځه ویشتمې مادې د (۱) فقرې له حکم سره سم، د ثبت په دفتر کې له ثبت او د هغه له خپرېدو وروسته اعتبار پیداکوي او د تطبیق وړ دی.

(۳) وزارت مکلف دی، د نه بریــالي داوطلب د غوښتنې پربنسټ د داوطلبۍ د پروسې په هکله اطلاعات په لنــډه توګه هغه ته وړاندې کړي.

(۴) وزارت مکلف دی، نــه بریــالي داوطلب ته په دې هکله چې د هغه د داوطلبۍ وړاندیز څه ډول د داوطلبۍ د ارزونې له معیارونو سره ســم، ارزول شوی دی، معلومات وړاندې کړي.

(۵) وزارت نه شي کولی، د نه بریالي داوطلب په سیالانو پــورې اړونــده معلومات یا د هغه د سیالانو د وړاندیز

معدنکاری توسط کابینه، وزیر معادن و پترولیم به نمایندگی از دولت قرارداد معدنکاری را اجراء نموده و اطمینان حاصل می‌نماید که داوطلب مؤفــق قــرارداد معــدنکاری را تطبیـــق می‌نماید.

(۲) قرارداد معدنکاری بعد از ثبت در دفتر ثبت و نشر آن مطابق حکم فقرهٔ (۱) مادهٔ بیست و پنجم این قانون مدار اعتبــار بــوده و قابــل تطبیـــق می‌باشد.

(۳) وزارت مکلف است، بر اســاس تقاضای داوطلب نامؤفق، اطلاعات در مورد پروسهٔ داوطلبی را طور خلاصه به وی ارایه نماید.

(۴) وزارت مکلف است، به داوطلب نامؤفق در مورد اینکه پیشنهاد داوطلبی وی چگونه مطابق معیارهای ارزیــابی داوطلبی، ارزیابی گردیده، معلومات ارایه نماید.

(۵) وزارت نمی‌تواند، معلومات مربوط به رقبای داوطلب نامؤفق یا چگونگی ارزیابی پیشنهاد رقبای وی را افشــاء

د ارزونې ډول افشاء کړي.

## د ملي تدارکاتو د ادارې نقش

**اووه څلویښتمه ماده:**

(۱) د ملي تدارکاتو اداره د لانـــدې چارو په اجراءکولو مکلفه ده:

۱- د داوطلبۍ له پروسې څخه څارنه وکړي او د لاندې مواردو له تر سره کولو څخه ډاډ تر لاسه کړي:

- د داوطلبۍ پروسه د دې قانون لــه حکمونو سره سم تر سره شوې ده.

- د دې قانون د دوه څلویښتمې مادې د (۱) فقرې د حکم درج شوې موخې تر لاسه شوې دي.

- د داوطلبۍ په لارښود کې ټاکل شوی زماني چوکاټ رعایت شوی دی.

۲- د څارنې رپوټ چې د داوطلبۍ د پروسې د څارنې د لنډیز رانغـــاړونکی وي، برابـــرکـــړي او د دې قانون د پنځه څلویښتمې مادې د (۲) فقرې له حکم سره سم، د ارزونې لپاره د ملي تدارکاتو کمېسیون ته وړاندې کړي.

(۲) وزارت او د کانونو تخنیکي کمېټه

نماید.

## نقش ادارهٔ تدارکات ملی

**مادهٔ چهل و هفتم:**

(۱) ادارهٔ تدارکات ملی مکلف بـــه اجرای امور ذیل است:

۱- از پروسه داوطلبی نظارت نموده و از انجام موارد ذیل اطمینان حاصـــل نماید:

- پروسه داوطلبی مطابق احکام ایـــن قانون انجام شده است.

- اهداف مندرج حکم فقرهٔ (۱) مادهٔ چهل و دوم این قانون بدست آمـــده است.

- چهارچوب زمانی تعیین شـــده در رهنمود داوطلبی رعایت شده است.

۲- گزارش نـــظارت که دربرگیرنده خلاصه نظارت پروسه داوطلبی باشد را تهیه نموده و به کمیسیون تـــدارکات ملی جهت ارزیابی، مطابق حکم فقرهٔ (۲) مادهٔ چهل و پنجم این قانون ارایه نماید.

(۲) وزارت و کمیته تخنیکی معادن

مکلف دي، د دې مادې د (۱) فقرې د ۱ جزء له حکم سره سم، د ملي تدارکاتو له ادارې سره د هغې د دندو په اجراءکولو کې همکاري وکړي او هغه معلومات چې د ملي تدارکاتو اداره يې غواړي، هغې ته وړاندې کړي.

(۳) د ملي تدارکاتو اداره مکلفه ده، له وزارت سره په مشوره کې، داسې لارښود چې د داوطلبۍ د پروسې د بېلابېلو پړاوونو د تر سره کولو لپاره ټاکلی زماني چوکاټ مشخصوي، برابر او هغه اقتصادي عالي شورې ته د تأييد په غرض وړاندې کړي.

(۴) د ملي تدارکاتو اداره مکلفه ده، وزارت ته د داسې تګلارې او اجراآتو په اړوند چې وکولی شي، د داوطلبۍ په پروسه کې چې ددې قانون د دوه څلوېښتمې مادې د (۱) فقرې له حکم سره سم، ترسره شوې ده، د اغېزمنتوب، روڼتيا او د قانون د رعايت وړانديز وکړي. په دې وړانديزکې د داوطلبۍ په پروسه کې له معلوماتي ټکنالوژۍ څخه په ګټه اخيستنه کې

مکلف اند، با ادارهٔ تدارکات ملی در اجرای وظایف آن مطابق حکم جزء ۱ فقرهٔ (۱) این ماده همکاری نمایند و معلوماتی را که ادارهٔ تدارکات ملی تقاضا می‌نماید، به آن ارایه نمایند.

(۳) ادارهٔ تدارکات ملی مکلف است، در مشوره با وزارت، رهنمودی را که چهارچوب زمانی معین را برای انجام مراحل مختلف پروسه داوطلبی مشخص می‌سازد تهیه و آنرا غرض تأییدی به شورای عالی اقتصادی ارایه نماید.

(۴) ادارهٔ تدارکات ملی مکلف است، به وزارت در رابطه به شیوه و اجراآتی که بتواند مؤثریت، شفافیت و رعایت قانون را در پروسهٔ داوطلبی که مطابق حکم فقرهٔ (۱) مادهٔ چهل و دوم این قانون راه اندازی گردیده است، پیشنهاد نماید. این پیشنهاد شامل تسهیل در استفاده از تکنالوژی معلوماتی در پروسه داوطلبی،

آسانتیا شامليږي.

(۵) وزارت او د کانونو تخنيکي کمېټه مکلف دي، خپلې دندې د دې قانون د څلوېښتمې مادې له حکم سره سم، په هغه ټاکلي زماني چوکاټ کې چې په لارښود کې تصريح شوی دی، تر سره کړي.

## نهم فصل

## د کان کېندنې عوايد

### ماليات

اته څلوېښتمه ماده:

(۱) جواز لرونکي په دې دليل چې جواز لرونکي دي، د ځمکې د ماليې په ورکړې مکلف نه دي.

(۲) ددې مادې د (۱) فقرې د حکم په پام کې نيولو سره، جواز لرونکي، قراردادیان، سلاکاران او د هغوی کارکوونکي مکلف دي، د ورکړې وړ ماليات او عوارض له مالياتي قوانينو سره سم، ورکړي.

می گردد.

(۵) وزارت و کمیته تخنیکی معادن مکلف اند، وظایف شان را مطابق حکم مادۀ چهلم این قانون، در خلال چهارچوب زمانی تعیین شده که در رهنمود تصریح گردیده، ایفا نمایند.

## فصل نهم

## عواید معدنکاری

### مالیات

مادۀ چهل و هشتم:

(۱) دارندگان جواز به دلیل آنکه دارندۀ جواز هستند، مکلف به پرداخت مالیه زمین نمی‌باشند.

(۲) بادرنظرداشت حکم فقرۀ (۱) این ماده، دارندگان جواز، قراردادی ها، مشاورین و کارکنان شان مکلف اند، مالیات و عوارض قابل پرداخت را مطابق قوانین مالیاتی، پرداخت نمایند.

## دکان کېندنې د عوایدو محاسبه

**نهه څلوېښتمه ماده:**

(۱) د رویالټیو، د ځمکې د کچــې د حق الاجارې، فیسونو او جریمو پــه ګډون د ورکړې وړ ټول عواید د دې قانون له حکمونو سره سم د دولتــي واحد حساب ته تحویلیږي.

(۲) د کان کېندنې د عوایدو او په هغو پورې د اړوندو جوازونو د پېژندنې په منظور د دولتي واحد د حساب لپاره یو کود تخصیصیږي.

(۳) وزارت مکلف دی، رویــالټي، د ځمکې د کچې حق الاجاره، فیسونه او جریمې چې ددې قانون له حکمونو سره سم، د ورکړې وړ دي، راټولې کړي. د هغو د نه ورکړې په صــورت کــې، وزارت کولی شي موضوع د عــدلي تعقیب په غرض واکمنو مراجعو تــه راجع کړي.

(۴) هغه ټولې رویالټي، د ځمکــې د کچې حق الاجاره، فیسونه او جریمې چې د دې قانون له حکمونو سره سم، د

## محاسبه عواید معدنکاری

**مادۀ چهل و نهم:**

(۱) تمامی عواید قابل پرداخت مطابق احکام این قانون به شمول رویالتی‌ها، حق‌الاجاره سطح زمین، فــیس‌هــا و جریمه‌ها به حساب واحد دولتی تحویل می‌گردد.

(۲) یک کود برای حســاب واحــد دولتی به منظــور شناســایی عوایــد معدنکاری و جوازهــای مربــوط آن تخصیص داده می‌شود.

(۳) وزارت مکلف است، رویالتی‌ها، حق‌الاجاره سطح زمین، فــیس‌هــا و جریمه‌های که مطابق احکام این قانون قابل پرداخت است، جمع‌آوری نماید. در صورت عدم پرداخت آن، وزارت می‌تواند، موضوع را غرض تعقیــب عدلی به مراجــع ذیصــلاح راجــع سازد.

(۴) تمامی رویالتی‌ها، حق‌الاجاره سطح زمین، فیس‌ها و جریمه‌های که مطابق احکام این قانون قابل پرداخت است به

ورکړې وړ دي، د پوررونو په توګه چې د ورکړې وړ موده یې تېره شوې ده، راټولېږي.

**د ولایتي انکشاف صندوق**

**پنځوسمه ماده:**

(۱) له هغو عوایدو څخه پنځه (۵) سلنه چې ددې قانون د نهه څلوېښتمې مادې له حکم سره سم او د اکتشافي او ګټې اخیستنې له جوازونو سره په مطابقت کې د دولتی واحد حساب ته ورکول کېږي، کال په کال د ولایتي انکشاف صندوق ته تخصیصېږي.

(۲) له هغو عوایدو څخه اته (۸) سلنه چې ددې قانون د نهه څلوېښتمې مادې له حکم سره سم، په کوچنې مقیاس د کان کېندنې د جوازونو له پلوه د دولتي واحد حساب ته ورکول کېږي، کال په کال د ولایتي انکشاف صندوق ته تخصیص ورکول کېږي.

(۳) د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره مکلفه ده، له اړوندو مقررو سره سم، ډاډ ترلاسه کړي چې د ولایتي

عنوان قرضه‌های که موعد پرداخت شان سپری شده، جمع‌آوری می‌گردند.

**صندوق انکشاف ولایتی**

**مادهٔ پنجاهم:**

(۱) پنج (۵) درصد از عوایدی که به حساب واحد دولتی مطابق حکم مادهٔ چهل و نهم این قانون و در مطابقت با جوازهای اکتشافی و بهره برداری پرداخت می‌گردد، سالانه به صندوق انکشاف ولایتی تخصیص داده می‌شود.

(۲) هشت (۸) درصد از عوایدی که به حساب واحد دولتی مطابق حکم مادهٔ چهل و نهم این قانون از بابت جوازهای معدنکاری به مقیاس کوچک پرداخت می‌گردد، سالانه به صندوق انکشاف ولایتی تخصیص داده می‌شود.

(۳) ادارهٔ مستقل ارگان‌های محلی مکلف است، مطابق مقرره‌های مربوطه، اطمینان حاصل نماید که عواید

انکشاف صندوق ته تخصیص شـــوي عواید له لاندې عوایدو څخه د یوه په پام کې نیولو سره پانګونه کېږي:

۱- په هغو نوښتونو کې چې د هماغه ولایت مفادو ته چې اړونده جواز په هغه کې واقع دی او د اقتصادي انکشاف د هغه پلان په پام کې نیولو سره چې د اړونده وزارت په واسطه برابر او ترتیب شوی دی، تخصیص ورکول کېږي.

۲- د ښاروالۍ د هڅونې صندوق ته لېږدول کېږي او په هغو نوښتونو کې چې د هماغه ولایت د ښاروالۍ مفادو ته چې جواز په هغه کې واقـــع دی، تخصیص ورکول کېږي.

## رويالټي

یو پنځوسمه ماده:

(۱) جواز لرونکی مکلف دی، د کال د هرې ربعې له پای ته رســېدو څخـــه وروسته د دېرشو (۳۰) ورځو په ترڅ کې اړونده رويالټي ورکړې او د هغه رپوټ يې د دې په پام کې نیولو پرته چې ګټه اخیستنه د ربعې په ترڅ کــې

تخصیص داده شده به صندوق انکشاف ولایتی بادرنظرداشت یکی از مـــوارد ذیل سرمایه‌گذاری می‌گردد:

۱- در ابتکاراتی که به مفاد همـــان ولایت که جواز مربوطه در آن واقع است و با درنظرداشت پلان انکشاف اقتصادی که توسط وزارت مربوطه تهیه و ترتیـــب شـــده، تخصـــیص داده می‌شود.

۲- به صندوق تشویقی شاروالی انتقال داده می‌شود و در ابتکاراتی که به مفاد شاروالی همان ولایتی که جواز در آن واقـــع اســـت تخصـــیص داده می‌شود.

## رويالتی

مادهٔ پنجاه و یکم:

(۱) دارندهٔ جـــواز مکلـــف اســـت، درخلال سی (۳۰) روز بعد از ختم هر ربـــع ســـال، رویـــالتی مربوطـــه را پرداخـــت و گـــزارش آن را بـــدون درنظرداشـــــت ایـــــن کـــــه بهره برداری در خلال ربع صـــورت

صورت موندلی دی، وزارت ته وړاندې کړي.

(۲) رویالتي په لاندې ډول محاسبه کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې ساختماني توکي په مقررو کې د تصریح شوې رویالتۍ بیې راونغاړي، د رویالتي بیه د مشخص شوي منرال د هر واحد ثابتې بیې ته په مراجعې سره، محاسبه کېږي.

۲- له دې پرته د تولیداتي رویالتۍ د ارزښت د فیصدۍ پربنسټ چې لاندې مشخص شوې ده، محاسبه کېږي.

- لومړني تولیدات: ۷.۵ ٪.

ثانوي تولیدات: ۵٪.

- ثالث تولیدات: ۲.۵ ٪.

(۳) د رویالتۍ ارزښت ناخالص عاید دي. خو دا چې ناخالص عاید یې د بازار له ارزښت څخه کم وي په دې دلیل چې د یادو تولیداتو په پلورنې او لېږدونې پورې اړونده معاملې، یوه برابره معامله نه ده، په هغه صورت کې چې معامله برابره نه وي، د رویالتي ارزښت، د هغې د بازار ارزښت دی.

گرفته است، به وزارت ارایه نماید.

(۲) رویالتی طور ذیل محاسبه می‌گردد:

۱- در صورتی که مواد ساختمانی در برگیرنده نرخ‌های رویالتی تصریح شده در مقرره‌ها باشد، نرخ رویالتی با مراجعه به قیمت ثابت هر واحد منرال مشخص شده، محاسبه می‌گردد.

۲- در غیر آن به اساس فیصدی ارزش رویالتی تولیداتی که در ذیل مشخص گردیده، محاسبه می‌گردد:

- تولیدات اولیه: ۷.۵ ٪.

- تولیدات ثانوی: ۵٪.

- تولیدات ثالث: ۲.۵ ٪.

(۳) ارزش رویالتی عاید ناخالص است، مگر این‌که عاید ناخالص آن کمتر از ارزش بازار باشد به دلیل آن‌که معاملات مرتبط با فروش و انتقال تولیدات متذکره، یک معاملهٔ برابر نبوده است. در صورتی که معامله برابر نباشد، ارزش رویالتی، ارزش بازار آن است.

(۴) جواز لرونکی مکلف دی، تشخیص کړي چې ناخالص عاید د بازار د ارزښت په نسبت کم دی، په دې صورت کې هغه مکلف دی، هغه د رویالټۍ په رپوټ کې افشاء کړي. وزارت کولی شي د هغې د تأیید په غرض د دې قانون د دوه پنځوسمې مادې له حکم سره سم، بررسي (پلټنه) تر سره کړي.

(۵) د رویالټۍ د تطبیق وړ بیې چې انتقالي جوازونو کې ټاکل شوې دي تر هغه وخت پورې چې:

۱- د انتقالي جواز د وخت موده پای ته نه ده رسېدلې یا له دې قانون سره په مطابقت کې فسخ شوی نه دی، د تطبیق وړ دی.

۲- ددې قانون د څلوراویایمې مادې د (۳) فقرې له حکم سره سم، په کوچني مقیاس انتقالي جواز د کان کیندنې په جواز یا ددې قانون د څلور اویایمې مادې د (۵) فقرې له حکم سره سم د کان کیندنې په قرارداد بدل شوی نه وي، د تطبیق وړ دی.

(۴) دارندۀ جواز مکلف است، تشخیص نماید که عاید ناخالص نسبت به ارزش بازار کمتر است. در این صورت وی مکلف است آن را در گزارش رویالتی افشاء نماید. وزارت می‌تواند غرض تأیید آن، بررسی (تفتیشی) را مطابق حکم مادۀ پنجاه و دوم این قانون انجام دهد.

(۵) نرخ‌های قابل تطبیق رویالتی که در جوازهای انتقالی معین شده اند تا زمانی که:

۱- مدت زمان جواز انتقالی به پایان نرسیده یا در مطابقت با این قانون فسخ نگردیده اند، قابل تطبیق می‌باشد.

۲- جواز انتقالی به جواز معدنکاری به مقیاس کوچک مطابق حکم فقرۀ (۳) مادۀ هفتاد و چهارم این قانون یا به قرارداد معدنکاری مطابق حکم فقرۀ (۵) مادۀ هفتاد و چهارم این قانون تبدیل نگردیده باشد، قابل تطبیق می‌باشد.

(٦) له تولید څخه رویالټي ددې مادې د (۲) فقرې د ۲ جزء له درج شوې فیصدۍ سره سم، ورکول کیږي، د دې په پام کې نیولو پرته چې تولید له هغو منرالونو څخه چې په جواز کې مشخص شوی وي.

## د رویالټۍ بررسي (پلټنه)

**دوه پنځوسمه ماده:**

(۱) که چیرې بررسي (پلټل) شوي حسابونه وښیي چې رویالټۍ په بشپړه توګه نه دي ورکړی شوي، جواز لرونکی مکلف دی، نه ورکړی شوې رویالټي د اته ویشتو (۲۸) ورځو په ترڅ کې تحویل کړي.

(۲) وزارت کولی شي، په هر وخت کې او د کانونو د تخنیکي کمېټې د غوښتنې په صورت کې مکلف دی، د رویالټۍ د رپوټ د محتوي د سموالي او کره والي د بررسۍ په هکله بررسي (پلټنه) تر سره کړي. په دې بررسۍ (پلټنه) کې د دې بررسي شامله ده چې آیا د ناخالصو عوایدو ارزښت د هغو د

(٦) رویالتی از تولید مطابق فیصدی مندرج جزء ۲ فقرهٔ (۲) این ماده قابل پرداخت می باشد، صرف نظر از اینکه تولید از منرال که در جواز مشخص شده باشد.

## بررسی (تفتیش) رویالتی

**مادهٔ پنجاه و دوم:**

(۱) هرگاه حساب‌های بررسی (تفتیش) شده نشان دهد که رویالتی‌ها طور کامل پرداخت نشده است، دارندهٔ جواز مکلف است، رویالتی پرداخت ناشده را در خلال بیست و هشت (۲۸) روز تحویل نماید.

(۲) وزارت می‌تواند، در هر زمان و در صورت تقاضای کمیته تخنیکی معادن مکلف است، بررسی (تفتیش) را مبنی بر بررسی صحت و سقم محتوای گزارش رویالتی راه‌اندازی نماید. این بررسی (تفتیش) شامل بررسی اینکه آیا ارزش عواید ناخالص کمتر از ارزش بازار آن است

بازار له ارزښت څخه کم دی، په دې خاطر چې د یادو تولیداتو په پلورنې او لېږدونې پورې اړونده معاملې برابره معامله نه ده.

(۳) جواز لرونکی مکلف دی، هغه ټول سندونه او معلومات چې وزارت د بررسۍ (پلټنې) په غرض غوښتي دي، وزارت ته وړاندې کړي.

(۴) که چېرې وزارت تشخیص کړي چې د رویالتۍ په ورکړه کې کوم کسر شتون لري، مکلف دی، جواز لرونکي ته د کسر د شتون په هکله خبرتیا صادره کړي او له جواز لرونکي څخه غوښتنه وکړي چې د اته ویشتو (۲۸) ورځو په ترڅ کې د کسر د نه ورکړې دلیلونه توضیح کړي.

(۵) وزارت مکلف دی، له هغو توضیحاتو څخه د یوې نسخې په ګډون چې جواز لرونکي وړاندې کړي دي، د رویالتۍ د بررسۍ (پلټنې) رپوټ د کانونو تخنیکي کمېټې ته وړاندې کړي.

(٦) که چېرې د کانونو تخنیکي کمېټه تشخیص کړي چې د رویالتي په ورکړه

بخاطر این که معاملات مرتبط با فروش و انتقال تولیدات متذکره، معامله برابر نبوده است، می‌گردد.

(۳) دارنده جواز مکلف است، تمام اسناد و معلوماتی را که وزارت غرض بررسی (تفتیش) مطالبه نموده به وزارت ارایه نماید.

(۴) هرگاه وزارت تشخیص نماید که در پرداخت رویالتی کسری وجود داشته، مکلف است، به دارندهٔ جواز اطلاعیه‌ای مبنی بر وجود کسر را صادر نماید و از دارندهٔ جواز تقاضا نماید تا درخلال بیست و هشت (۲۸) روز دلایل عدم پرداخت کسر را توضیح دهد.

(۵) وزارت مکلف است، گزارش بررسی (تفتیش) رویالتی را به شمول یک نسخه از توضیحاتی که دارندهٔ جواز ارایه نموده، به کمیته تخنیکی معادن ارایه نماید.

(٦) هرگاه کمیته تخنیکی معادن تشخیص نماید که در پرداخت رویالتی

کې کوم کسر شتون لــري، وزارت مکلف دی، د کسر د ورکړې غوښتنه وکړي. جواز لرونکی مکلف دی د اته ویشتو (۲۸) ورځو په ترڅ کې کسر ورکړي.

(۷) که چېرې د رويالټي د رپوټ درج شوي معلومــات ســم نــه وي يــا بې لارې کوونکي وي او يا د رويالټي په ورکړه کې کوم کسر شتون ولري، جواز لرونکی له مقررو سره ســم، د جريمې په ورکړې مکلف دی.

(۸) که چېرې د رويالټي د رپوټ درج شوي معلومات په عمده توګه ناسم يا بې لارې کوونکي وي، مرتکب شخص سرغړوونکی ګڼل کېږي او ددې قانون د يو شپېتمې مادې له حکم سره سم، تر عدلي تعقيب لاندې نيول کېږي.

کسری وجود داشته، وزارت مکلف است، پرداخت کسر را مطالبه نماید. دارنده جواز مکلف است در خــلال بیست و هشت (۲۸) روز کســر را پرداخت نماید.

(۷) هرگاه معلومات مندرج گزارش رویالتی درست نبوده یا گمراه کننده باشد و یا در پرداخت رویالتی کسری وجود داشته باشد، دارندهٔ جواز مکلف به پرداخت جریمه مطابق مقرره‌هــا می‌باشد.

(۸) هرگاه معلومات مندرج گزارش رویالتی عمداً نادرست یا گمراه کننده باشد، شخص مرتکب تخلف شده و مطابق حکم مادهٔ شصت و یکم ایــن قانون مورد تعقیــب عــدلی قــرار می‌گیرد.

## لسم فصل

## مالي تضمين، د قانون رعايتول او اجراآت

**د ژمنو د اجراءکولو ضمانت**

**دري پنځوسمه ماده:**

(۱) د اکتشافي جواز يا د کټې اخيستنې جواز لپاره د ژمنو د اجراءکولو ضمانت کېدای شي الزامي وي. دياد ضمانت په کوچني مقياس د کان کيندنې د جواز لپاره لازمي نه دی.

(۲) د ژمنو د اجراءکولو ضمانت د اکتشافي جواز يا د کټې اخيستنې جواز له ورکړې څخه مخکې وړاندې کېږي.

(۳) د ژمنو د اجراء کولو د ضمانت ډول او اندازه د کان کيندنې په قرارداد کې مشخصېږي.

**د ژوند چاپېريال ضمانت**

**څلور پنځوسمه ماده:**

(۱) د اکتشافي جواز او د کټې اخيستنې جواز لپاره د ژوند چاپېريال ضمانت الزامي دی. دغه ضمانت

## فصل دهم

## تضمين مالی، رعايت قانون و اجراآت

**ضمانت اجرای تعهدات**

**مادۀ پنجاه و سوم:**

(۱) ضمانت اجرای تعهدات برای جواز اکتشافی يا جواز بهره برداری می‌تواند الزامی باشد. اين ضمانت برای جواز معدنکاری به مقياس کوچک لازمی نمی‌باشد.

(۲) ضمانت اجرای تعهدات قبل از اعطای جواز اکتشافی يا جواز بهره برداری ارايه می‌گردد.

(۳) شکل و مقدار ضمانت اجرای تعهدات در قرارداد معدنکاری مشخص می‌گردد.

**ضمانت محيط زيستی**

**مادۀ پنجاه و چهارم:**

(۱) ضمانت محيط زيستی برای جواز اکتشافی و جواز بهره برداری الزامی می‌باشد. اين ضمانت می‌تواند، برای

کېدای شي، په کوچني مقیاس د کان کېندنې د جواز لپاره الزامي شي.

(۲) د ژوند چاپېریال ضمانت د جواز په ساحه کې د ځمکې کېندنې له پیلېدو څخه مخکې وړاندې کېږي.

(۳) د ژوند چاپېریال د ضمانت ډول او اندازه د وزارت په واسطه د لانـدې مواردو په پـام کـې نیولـو سـره مشخصېږي:

۱- له اړوندو مقررو سره سم.

۲- د ژوند چاپېریال دمدیریت د پلان په پام کې نیولو سره.

۳- د ژوند چاپېریال ساتنې له ملـي ادارې سره په مشوره کې.

## ددې قانون د حکمونو د نه رعایت پایلې

**پنځه پنځوسمه ماده:**

(۱) که چېرې د جواز لرونکی، پـه جوازکې درج شوي شرایط رعایت نه کړي، وزارت کولی شي جواز لرونکی ددې قانون د اته پنځوسمې مادې لـه حکم سره سم، جریمه یا د هغه جواز

جواز معدنکاری به مقیاس کوچـک الزامی گردد.

(۲) ضمانت محیط زیستی قبـل از شروع حفر زمین در ساحه جواز ارایه می‌گردد.

(۳) شـکل و مقـدار ضـمانت محیط زیسـتی توسـط وزارت بـا درنظرداشت موارد ذیـل مشـخص می‌گردد:

۱- مطابق مقرره‌های مربوطه.

۲- بادرنظرداشت پلان مدیریت محیط زیستی.

۳- در مشوره با ادارۀ ملی حفاظت محیط زیست.

## پیامدهای عدم رعایت احکام این قانون

**مادۀ پنجاه و پنجم:**

(۱) هرگاه دارندۀ جواز، شرایط مندرج جـواز را رعایـت ننمایـد، وزارت مـی‌توانـد دارنـدۀ جـواز را مطابق حکم مادۀ پنجاه و هشتم ایـن قـانون جریمـه یـا جـواز آنـرا

ددې قانون د نهه پنځوسمې مادې له حکم سره سم، تعليق او يا د شپېتمې مادې د حکم سره سم، د هغه جواز لغو کړي.

(۲) که چېرې جواز لرونکی خپلې هغه ژمنې چې په اکتشافي برنامه يا دکان کېندنې په وړانديز کې درج دي ترسره نه کړي، وزارت کولی شي ددې مادې د(۱) فقرې په درج شوو واکونو سربېره، د ژمنو د اجراء ضمانت ترسره کړي.

(۳) که چېرې جواز لرونکی و نه کړای شي، د ژوند چاپېريال د مديريت په برنامه کې درج شوې ژمنې ترسره کړې، وزارت کولی شي ددې مادې د (۱) فقرې په درج شوو واکونو سربېره لاندې اقدامات تر لاس لاندې ونيسي:

۱- د ژوند چاپېريال ضمانت اجراء کړي.

۲- ترميمي فعاليتونه اجراء او لګښت يې د ورکړې وړ دين په توګه له جواز لرونکي څخه تر لاسه کړي.

(۴) که چېرې شخص ددې قانون

مطابق حکم مادۀ پنجاه و نهم این قانون تعلیق و یا مطابق حکم مادۀ شصتم جواز آنرا لغو نماید.

(۲) هرگاه دارندۀ جواز تعهدات خود را که در برنامه اکتشافی یا پیشنهاد معدنکاری درج است انجام ندهد، وزارت می‌تواند بر علاوه صلاحیت‌های مندرج فقرۀ (۱) این ماده، ضمانت اجرای تعهدات را اجراء نماید.

(۳) هرگاه دارندۀ جواز نتواند، تعهدات مندرج برنامه مدیریت محیط زیستی را انجام دهد، وزارت می‌تواند برعلاوه صلاحیت‌های مندرج فقرۀ (۱) این ماده اقدامات ذیل را روی‌دست گیرد:

۱- ضمانت محیط زیستی را اجراء نماید.

۲- فعالیت‌های ترمیمی را اجراء و هزینه آن را به عنوان دین قابل پرداخت از دارندۀ جواز حاصل نماید.

(۴) هرگاه شخص، احکام این قانون را

حکمونه نقض کړي یا وزارت ته ناسم معلومات وړاندې کړي، وزارت کولی شي لاندې تصمیمونه ونیسي:

۱- د دې قانون د اته پنځوسمې مادې له حکم سره سم د جریمې تطبیق.

۲- د دې قانون د یو شپېتمې مادې له حکم سره سم د عدلي تعقیب په غرض د موضوع ارجاع.

## اداري څارنه

**شپږ پنځوسمه ماده:**

(۱) وزارت ددې قانون د حکمونو او په جوازونوکې د درج شوو شرطونو له تطبیق څخه د څارنې مسؤول او مکلف دی، د هر جواز لپاره د قانون له تطبیق څخه د څارنې مسؤول وټاکي.

(۲) د قانون له تطبیق څخه د څارنې مسؤول کولی شي، له لاندې مواردو څخه یو تر سره کړي:

۱- د جواز د ساحې پلټل.

۲- د سندونو او معلوماتو وړاندې کولو ته د اشخاصو مکلف کول.

۳- په اړوندو مواردو کې د معلوماتو د

نقض نماید یا معلومات نادرست را به وزارت ارایه کند، وزارت می‌تواند، تصامیم ذیل را اتخاذ نماید:

۱- تطبیق جریمه مطابق حکم مادۀ پنجاه و هشتم این قانون.

۲- ارجاع موضوع غرض تعقیب عدلی مطابق حکم مادۀ شصت و یکم این قانون.

## نظارت اداری

**مادۀ پنجاه و ششم:**

